


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

1521

# ستا د ځوانۍ تصویر په خوب
# اوده دے

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پخپله مینه باندې حق دې زما


کتاب * ستا دځوانۍ تصویر په خوب اوده دے

مصنّف * اظهار الله اظهارؔ

ترتیب * محمد ایاز غزلؔ، شکیل احمد نایابؔ

اهتمام * پروفیسر شوکت الله حسن، محمد داؤد کمال محسن

پروف ریډنګ * نوشاد حکیم، پروفیسر سید ایوب شاه

رومبے اشاعت * جنوري ۲۰۰۳ء

پریس * انصاري پرنټنګ پریس محله جنګي پېښور

کتابت * ارشاد خان "پښتو اکېډیمي پېښور

قیمت * دوسل روپۍ (۲۰۰)


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

دَخپل عظیم پلار پروفیسر انعام الله جان قیس
او دَخپلې درنې مور په نوم چې
ساه ساه ئې راته دَجنتونو نکهتونه
راسپړي. او نظر نظر ئې راته په لارو
کښې دَرفعتونو اسمانونه او دَ اسمانونو
رفعتونه غوړوي

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ هائیکو

## هیئتي رنګونه، موضوعات او پښتنه هائیکو

لا تر اوسه هائیکو خپلو ښائسته خویونو او سپېڅلو رویو پښتنه کړه. دې زړه راښکونکي ادبي صنف دومره لږ وخت کښې دَ پښتون قام دَ اجتماعي لاشعور مرکز ته ځان ور اورسولو چې دَ شعري اصنافو دَ ارتقاء په تاریخ کښې ئې خیال کول هم یو خوب او خیال ګڼلے کیږي. دَ کومو صفتونو په بنیاد چې یو معاشره دَ خپل وجود جواز راپیدا کوي. هغه اوس کم او زیات دَ پښتنې هائیکو په خټه کښې اغږلے شوي ښکاري. دغه وجه ده. چې هائیکو په یوه مرحله کښې هم دَ پښتون قام نه ځان په فاصله نهٔ دے ساتلے. بلکې په نره دَ دوي په غم ښادۍ او مړې ژوندي کښې شریکه شوې ده. او دَ پښتنو دَ ژوند ژواک نه ئې نهٔ یواځې ځان نه بېل ساتلے دے. بلکه قدم په قدم ئې دَ پښتنې سیمې دَ ژوندي روایتونو دَ رڼو قدرونو، سماجي غوښتنو، تهذیبي رویو، اوسې ژوند او ثقافتي هلو ځلو نه دَ خپل زړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درز اکاني جوړې کړې دي . او اوس د هایکو په ساده ساده کیني د پښتنې خاوري وړې نغمه نغمه راپورته کیږي او تپه تپه خورېږي.

لنډه دا چې پښتني معاشره کښې د زړونو نه را واخله تر دې ساعته پورې څومره بدلون راغلی دے هایکو ترې په مکیز مکیز خپله غیږه او په هنر هنر خپلې مرمرينې لېچې را چاپېره کړې دي . او په خپله زورورينه لوپټه ئې ورله شمله هسکه ساتلې ده. ځکه خو د ځنو نباغلیو له اړخ نه د پښتنې هایکو غندنه بېخي داسې ښکاري لکه سړے چې خپلو پښو له تبر را اوچت کړي.

د هایکو په موضوعاتي ارتقاء د خبرو کولو نه وړاندې دا لازمي ضرورت محسوسېږي چې د هایکو په هیئتي بدلون او پرمختګ دې هم رڼا اوغورځولے شي.

هایکو چې د جاپان د اوږد نظم "هایکائی" نه ځان را بېل کړو نوکهو شکلونو کښې ئې ځان څرګند کړو. او په خارجي سطحه ئې خپل کړې شمېره تجرباتي تصویرونه رانیکل. ولې د ځینو تصویرونو تجربې او د ځینو تجربو تصویرونه پکښې لکه د کاڼي د بُت په ځاے ولاړ پاتې شو. او د ارتقاء هېڅ تحرک او تموج پکښې را پیدا نه شو. چې حیثیت ئې اوس د تاریخي حوالو نه سیوا هېڅ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نهٔ دے پاتې شوے. ولې ځنې اړخونه ئې نهٔ فقط ارتقاء سره مخ شو بلکه دَ خپل پرمختګ سفر دَ دنيا ګټ ګټ ته ور اورسول. خو چونکه دغه صورتونه هم دَ دنيا نورو ژبو او ادبياتو سل په سله خپل نهٔ کړل او دَ خپل مزاج او استعداد تر مخه ئې پکښې ضروري بدلون او خپل ځان سره مناسب سمون راوستلو ځکه نو په هيئتي سطحه ئې نور هم ګڼ اشکال او تماثيل مخې ته راوړل چې دَ وخت بدلېدونکيو ساعتونو کښې ځينو خپل ځانونه ژوندي اوساتل او ځينو لکه دَ سمندر دَ موجونو دَ سفر په لاره کښې خپل وجود او بائيللو.

دَ هائيکو دَ هيئتي تاريخ احاطه کول يقيناً يو ډېر وخت غوښتونکے عمل دے. ځکه نو دلته دَ عالمي ادبياتو نه او خاصکر دَ مشرقي ادب نه دَ هائيکو يو څو نمائنده هيئتي نمونې وړاندې کولے شي.

دَ هائيکو دَ درې (٣) مصرعه ايز تعين نه وړاندې په عالمي ادب کښې دَ يو مصرعي هائيکوګانې، دغه رنګ دَ دوه (٢) مصرعو هائيکوګانې هم سرونه راپورته کړل. او تر دې ساعته پکښې طبع ازمائيي کېږي. خو داسې صورتونه دَ هائيکو بنيادي هيولي سره زيات سمون نهٔ خوري.

لهذا دَ بقاء په حقله ئې څهٔ دلائل هم ډېره کرانه دهٔ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته دَ نمونې په ډول ترې نه مثالونه وړاندې کېږي.

"دَ يوې مصرعې هايکوګانې"

ترجمه ۱: يو لولکۍ ده چې په پارکنګ ډاګو زنږي ګوره

(اليکيسس روهيله)

ترجمه ۲: باران په هره کړکۍ

(کوردن ډين سوويل)

" ۳: دَ کرړه مار دَ سر اسمان دے زما

(محمد اياز غزل)

" ۴: دَ تعبيرونو لار کښې ورک شمه زهٔ

(شکيل احمد ناياب)

" ۵: خو پلوشو زما دَ سترګو نظر هم يوړلو

(اظهار الله اظهار)

په دې ټولو مثالونو کښې دَ هايکو داخلي مزاج پټ پټ ښوونې کوي. تصويرونه پکښې جوړيږي. دَ فطرت حادثې او دَ تخيل رنګونه پکښې ترغاړه او ځې. ولې دَ شعور په سمندر کښې هغسې غورځنګ نهٔ راولي. دغه سبب دے چې دلته تصويرونه يواځې تصويرونه او عکسونه دي. حرکت هم پکښې محسوسيږي. خو دَ فکر وړاندې منزل او دَ نتيجې کوټلې مرحلې ته ذهن ډېر په ګرانه ور رسوي. او په خپله داسې وائي چې زمونږ دَ فنی تکميل زاويې په نامعلومه لاره کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکې شوې دي. موږ نېمګړې نیمه خوا یو.

"دوه مصرعه ایزې هایکوګانې"

ترجمه: د جنورۍ درېیمه تاریخ ده
د ږمي کوټې لاتر اوسه یخې دینه
(باب بولډ مین)

ع۲: ستا لوښته که مې رانه وړه
زه به خپل ځان په اباسین لاهو کومه
(اظهار الله اظهار)

ع۳: ما باندې ستا سترګې بلا ګرانې دي!
کښې نو اور به په ټول کلي پورې کړوما
(اظهار الله اظهار)

کېدی شي دلته څنې اعتراض کوونکي دا هم اووائي چې درېیمه دوه هایکوګانې خو د "یا قربان" د التزام نه یو خوا ته بېخي د پښتو ټپې دي. او که چرته هایکو داسې وي نو بیا ټپه څه بلا ده خو ولې هایکو په خپل ځان کښې د پښتو د ټپې خواږه هم لري. ځکه نو د ابلاغ د اسانتیا په خاطر او د تفهیم او وضاحت دپاره د "باب بولډ مین" دوه مصرعه ایزه هایکو د ټپې په هیئت کښې ترجمه کړے شوه. دوېم مثال د درېیمې په تتبع او ورسته کښې راوړلے شو البته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه حواله دَ هایکو او دَ ټپې دَ صنفي تفریق په خیال راوړے شوه. چې کښې چرته دَ دواړو صنفونو هیئتي امتیاز یو بل کښې ګډ وډ او ورک نشي. او دا هم چې ځني نادان معترضین په مثال دَ اصل ګمان کښې بیا چرته دَ خپل سر وېښته را اونه شوکوي. او نوي ماتمونه راجوړ نه کړي.

بهرکیف دوه[۲] مصرعه ایزه هایکو دَ یوې مصرعه ایزه هایکو په مقابله کښې زیات فعالیت په دې لري چې تصویر دَ تصور په لاره روانه وي ولې پښتو ادب سره سره په عالمي ادب کښې دَ درې[۳] مصرعه ایزه هایکو دَ تخلیق رجحان منګولې ګلکوي ټکیا دے ځکه نو ورو ورو دوه مصرعه ایزو هایکو هم خپل نقشونه پیکه او تت کړي دي. او دَ سفر نه یې دَ ستومانئ ګردونه راتاؤ شوي دي.

درې مصرعه ایزې هایکوګانې دَ هیئتي تنوع او ساختیاتي اختلاف باوجود خپل حقیقي روح ته زیاتې ورنږدې دي. ځکه یې خو دَ تجرباتي پېښو باوجود ښکاره مقبولیت هم موندلے دے. هایکو چې دَ هیئت او ساخت کوم پېړندلي شکلونه ځان سره راوړلي دي. دلته ترې نه یو څو دَ مثال په طور وړاندې کولے شي. دَ درې مصرعه ایزې هایکو یو قدیم جاپاني شکل

Scanned by CamScanner

اووکس سپلابین شکل دے. په دې کښې اووکس چې
د ۵-۷-۵ په ترتیب سره راځي او خپله تخلیقي او
هنري اکائي جوړه وي.
په اردو ژبه کښې د ضروري ذخافاتو نه يو
طرف ته دا هایکو د "بحر متدارک" دې ارکانو
سره سمه راځي.

فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فع

یا د موسیقۍ د دې ارکانو په مرسته سرته رسي.

سارے گاما پا
سارے گاما پا دا ني
سارے گاما پا

مثالونه ۱:-

خوب مې لیدهٔ څهٔ
نهٔ راته یادېږي اوس
شوے يې تعبیر ته

(قاسم محمود)

۲:- بس شو زما وار
مینه وینې وینې شوه
ورکه يې کړه لار

(نادم خټک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۶ ۔ په تال چې ځانګې
ځنې زړه سترې ښغلې
اور ته ور دانګې

(اظهار الله اظهار)

۳۷ ۔ یو خوب او خیال دے
کارغه زده کړے کله
د زرقې چال دے

(اظهار الله اظهار)

دا انداز د پښتو ژبې بنیادي آهنګونو او صوتیاتي نظام سره سمون نهٔ خوري. لهذا په پښتو ژبه کښې ئې لا تراوسه د تخلیق باوجود هیڅ مقام نهٔ دے تر لاسه کړے. بله دا چې په دریو مصرعو کښې ارو مرو اووس چې ځایول یا اولس چې په دریو لنډو او بړدو ټاکلے شوو مصرعو کښې بندیواني کول یو طرفته یقیناً یوه هنري ده ولې هم دغه هنروري د تخلیق په فطرت ناروا اثر هم غورځوي. او یو میکانیکي او مصنوعي فضا راجوړه وي. کم از کم د پښتو ژبې ترحده خو دې صورت تصنع کښې هیڅ شک نشته اوس که څوک په دې ترتیب کښې د تخلیق صحت په ځائے ساتلے شي. نو بیا خو پکښې هیڅ عیب نشته خو داسې ښکاري چې دا ډېره به ښترګی نهٔ شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دَ درې مصرعه ایزه هایکوګانو یو څو نور شکلونه هم اووینئ۔

ع۱: اوخاندهٔ
که خونبه دې وي (۳-۵-۳)
اوژاړهٔ
(شکیل احمد نایاب)

ع۲: اومنه
زما خبرهٔ (۳-۵-۳)
دوب به شې
(محمد ایاز غزل)

ع۳: ستا نه به زار شمه خو
که دغه حال وي کله (۷-۷-۷)
ستا نه به زار نهٔ شمه
(محمد ایاز غزل)

ع۴: زما دَ کور بندیان خو دومرهٔ هم خاموشه نهٔ وو
اوس خو زما هاغه معصوم بچې هم حال داسې چې
زهٔ ئې په زوره تخنووُمه خو خندا نهٔ ورځي
(۱۶ - ۱۶ - ۱۶) (اقبال حیدر)

ع۵: ستورې رانغارم پلوشې کښې دَ ژوند
ستا بناسته نوم دَ رنګینو لوګو په وزرونو لیکم
چې دَ وږمې قلم راواخلمه زهٔ
(۱۱ - ۱۹ - ۱۱) (اقبال حیدر)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع۶۔ دا د سحر خاموشي

خو د بناخونو منځ کښې شور کوي نن
يوه يوازې پانه (۷-۱۲-۷)
(جې. ډبليو پيکټ)

ع۷۔ سيني د پېغلو د لاسونو سره هم پوره شوې
دا سي بښکار يږي کښې (۱۶-۷-۱۶)
يوه پرده باندې ګلونه راټوکيږي رڼې
(روډ ويلموټ)

ع۸۔ د لوګونه به ډولی جوړه کړم
زه به رنګونه د سپرلو ټول په جرګه درولم
تا به بوځم لپونی (۱۱-۱۶-۷)
(اظهار الله اظهار)

ع۹۔ ځي رانه مه ا ړوه
لکه د سپينکې شان د اورنه الوتلے يمه
تا له راغلے يمه (۷-۱۶-۷)
(اظهار الله اظهار)

ع۱۰۔ اوګوره
زه د خپلو سپو روپه اوږو باندې سورلي کوم
تا سره سيالي کوم (۳-۱۶-۷)
(محمد اياز غزل)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱: دَ پوهریانو دَ ژوندون قصه به تاته کوم
زما جانانه (۱۶-۵-۲)
کیسه
(تشکیل احمد نایاب)

دغه رنګ دَ موضوعاتو یا عنواناتو دَ لاندې لیکلې شوې هایکوګانې او دَ مسلسل هایکوګانو مثالونه هم له نظره راتېرېږي چې دَ تجسس فقدان پکښې محسوسېږي. داسې هایکوګانې قدم په قدم خپله موضوع وړاندې بوځي او دَ کېنو تصویرونو رنګونه پکښې دَ یو مرکزي تصویر څهره رابښکاره کوي خو چونکه داسې هایکوګانې دَ هایکو جامعیت، اختصار او علامتي پېرایې ته زیان ور رسوي. ځکه ترې عام طور سره تخلیق کوونکي ډډه کوي. او یو بدعت یې ګڼي.

دغه رنګ دَ نثري نظم په رنګ ځنې تخلیق کوونکیو نثري هایکوګانې هم لیکلي دي. چې په دربو کرښو کښې خپله افسانه سرته رسوي ولې داسې هایکوګانې له آهنګ او غنایت نه معرّی وي ځکه دَ پښتنو دَ ذوق تنده پرې نه ماتېږي داسې برېښي چې دَ نثري نظم په رنګ به پښتانه د نثري هایکو معماتي صورت خپلولو ته تیار نشي ولې دَ موضوع ترغه دَ نثري هایکوګانو یو څو عکسونه ځکه وړاندې کولې شي چې دَ هایکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیـئـتي سفر اندازه تر ډېر هم اوشي. او د تاریخي ریکارډ سمون هم سم شي.

"مثـالــونـه"

۱ء: زهٔ د خپل کور په چت مـلاست یم
تـوره شپه ده د اسمان ستوري شمارم
خو داسې ښکاري چې ترې ستا غمونه ډېر زیات دي
(شکیل احمد نایاب)

۲ء: د کړه مار د پاسه یوسف خان شوک دے
تاته پته ده چې هغه هم غزل دے
مینه د قالبونو پروا داره نـهٔ وي
(محـمد ایاز غزل)

۳ء: ستوري زما د خپو ښاپوونه دي
دا ټول به زهٔ په یو هنر راپوځائے کړم
او ستا د زنې خال به ترې نه جوړ کړم
(اظهار الله اظهار)

په دې موقع دا صراحت هم ضروري ګڼلے کېږي چې په عالمي ادب کښې همدغه رنګ په مثـقـي ژبو کښې د هایـکـو د مخلوط بحرونو تخلیق هم مخې ته راغلے دے خو پکښې د اهنګونو سمون سم نهٔ دے ځکه ئې یواځې په یادولو اکتفا کېږي. مثالونه ئې نـهٔ شي وړاندې کولے.

Scanned by CamScanner

دا د هائیکو د هیئتي سفر یو څو پړاوونه وو. څو
څله ته چې پښتنه هائیکو ویلې کېږي. هغه دوي ټولو
هیئتونو نه ځانته بیل کړه وړه او خوند رنګ لري
پښتنه هائیکو متوازي الاوزان هائیکو ده چې هره
مصرعه ئې بلې سره برابر او په ترنم او اهنګ کښې
تړلې شوې وي. چونکه دې هائیکو کښې مصرعې لنډې
تنګې یا اوږدېږي لنډېږي نه ځکه ئې د پښتنو منصفانه
ذوق خوښوي. دا ساختیاتي سلسله د پښتنو د موسیقۍ
سره هم سل په سله سمه ده. او حافظه ئې هم په
پوره تېزۍ قبلوي. خو دلته دا وضاحت هم ضروري
دے چې پښتنه هائیکو یوازې د درېو برابرو مصرعو
تکرار هم نه دے. بلکه د یو خاص یوولس سېلابین
بحر د التزام نامه ده. چې د رزمیه بحرونو دې
ارکانو سره لږ ډېر مماثلت لري. ارکان دي.

"فاعلاتن مفاعلن فعلن"

په هیئتي اعتبار پښتنه هائیکو د خاص یوولس
سېلابین ردهم سره ځکه او تړلې شوه. چې پرې د
پښتو هائیکو لیکونکیو ځان ته اجتهاد او اجماع کړې
ده. او په پښتو ژبه کښې چې تردې ساعته څومره د
هائیکوګانو مجموعې مخې ته راغلې دي غالبه او درنه
برخه ئې هم په دغه خاص اهنګونو کښې وجود موندلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے۔ او بیا پرې د پښتنو اولسي ذوق پوره پوره اعتماد هم کړے دے۔

د پښتنې هایکو په دغه خاص هیئت کښې چې کومې مجموعې مخې ته راغلي دي. پکښې د ښاغلي اسماعیل ګوهر "مسکا" د اظهار الله اظهار "راته غوږ ونو کښې ینګړي شرنګوي" "کاڼي د ګل په لاس کښې خوند نهٔ کوي" او دا مجموعه "ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دے" دغه رنګ د ښاغلي ډاکټر دیدار یوسفزي "نسکورې لیې" د پروفیسر نواز طائر "خوبونه خپل کلي کښې" د ښځې ناهید سعد "خپلو خوبونو له تعبیر لټوم" داسې د ښاغلي محمد ایاز غزل د هایکو مجموعه "د ښاپېریو نو د صحرا ورېځې" او د شکیل احمد نایاب "پلوشې" هم په ګوته کړې شوې چې کښې د تخلیق د مرحلو نه راتېرې شوې دي۔

د هایکو په داسې هیئت د پښتون قام درې طبقې متفق دي چې پکښې مشران، ځوانان او ښځې شاملې دي. ځکه دغې اتفاق له د اجتهاد او اجماع نامه ورکول عین روا داري ده. او دغه خاص یوولس سیلابېزې هایکوګانې پښتنې هایکوګانې ګڼل ښځې بې ځایه نهٔ دي. په دې خاص تناظر کښې دا یو څو هایکوګانې اولولئ.

Scanned by CamScanner

ع۱، زړهٔ مې تنهاکۍ ښې لوخړه اوکړې
پوهړ چې اوځکې توریالي دَ وطن
دَ خور دَ سر لوپټه هم خرڅوي

(شکیل احمد نایاب)

ع۲، یوې کوجرۍ ته هګولو ویل
تا به یو ورځې سمندر لاهو کړي
مور دې په پښو کښې اوبهٔ ګړوي

(محمد ایاز غزل)

ع۳، دَ داسې خلقو په ولقه کښې دے ژوند
چې په نصیب ئې دَ سپېلو زبکه ده
خو بیا هم ځي په اسمان لاړې توکي

(ډاکټر دیدار یوسفزے)

ع۴، چا راته وے چې دَ سپېلي ورځو کښې
هغه تر لرې ګرځي ساکو پسې
ځکه پټې کښې مې شړشم اوکرل

(اسماعیل ګوهر)

ع۵، دَ هسپتال هغه منحوسه ګړۍ
مې نهٔ هېرېږي چې تا ماته اووې
"خپل ځان مې بایلو تهٔ مې اوګټلې"

(پروفیسر محمد نواز طائر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع۶: دا خندا کانې ئې فریب وي هسې
دَ وخت میچنه کښې دَ ل کښېږي مدام
دَ ادم زویه ماته سپک مهٔ ګوره

(ناهید سحر)

ع۷: لوخې چې ګچن کښې ګنده پاتې شي
داشې په ژبه ئې صفا سترګه کړي
زما دَ ښځې نه پښو پاکه ده

(ظفر خان ظفر)

ع۸: دَ محبت له عظمتونو نه زار
چې دَ زمانو ئې وړونه جوړ شي
میاندې په سینې سر ګړاکانې کوي

(اظهارالله اظهار)

ع۹: په شرق دې اولګې رسمونه دَ بنار
چې دَ کمرې کړکۍ مې ببرته کړله
ما دَ هوسۍ کټ کښې میلو اولیدهٔ

(اظهارالله اظهار)

بهرحال دغه خاص هیئت کښې دننه هم ځنې تجربې په نظر راځي۔ پورتنې وارهٔ مثالونه دَ معرّئ هایکوګانو په زمره کښې راځي۔ خو په دغه معلوم چوکاټ او هیئت کښې مقفّیٰ هایکوګانې هم لیکلې شوي دي۔ چې په درې مصرعو کښې ئې ترتیب اوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



را اوړي يا وړاندې ورستو کېږي . دَ مثال په طور داسې يو ولس سلابيزې مساوي الاوزان هايکوګانې شته چې ورمبنۍ دوه مصرعې ئ په قافيه کښې تړلې شوې دي . او اخري مصرعه ورسره په اهنګ کښې برابره وي خو معنیٰ وي . دغه رنګ اولنۍ او اخرۍ مصرعه دَ قافيو په اهنګونو کښې داتوله وي . ولې دويمه يا مېنځنۍ مصرعه دَ قافيې نه ازاده وي يا اخري دوه مصرعې دَ قافيو په لړه کښې سيلې شوې وي . او اولنۍ ددغې قدغن نه خلاصه وي . داسې مثالونه هم شته چې درې واړه مصرعې يکښې هم قافيه او هم رديف وي . خو کومه بې ساختګي چې په معنیٰ شکل کښې موندلې شي . عموماً تړې دا نور واړه صورتونه په څهٔ نه څهٔ حوالې سره عاري وي . بهر کيف دلته دَ وضاحتې ترتيب سره سمې هايکوګانې رانقل کېږي .

"مثالونه"

۱ــ ارمان په غېږ کښې دَ ارمان ورک شولو
مانه دَ لاس کړنو کښې ځان ورک شولو
دَ زړهٔ درزا پسې اوس لاړ چرته شم

(اظهار الله اظهار)

Scanned by CamScanner

ع۲: ما پکښې عکس د ښونتوب اولیدهٔ
په سوچ کښې ورکه شوه د ژوند ائینه
زهٔ چې بیدار شومه، ما خوب اولیدهٔ

(اظهار الله اظهار)

ع۳: د سترګو تور دې د غزل مطلع کړم
داسې راټول راټول تقسیم شومه زهٔ
لکه د کاڼې په مینځ نیم شومه زهٔ

( " )

ع۴: د وخت رفتار لا اودرولے شي څوک
داسې په وړاندې زمانه لاړه شي
چې ائینه دانه وانه لاړه شي

( " )

ع۵: زنځیر موکے، موکې زنځیر اوخوړهٔ
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړهٔ
نن دې وینو رانه تصویر اوخوړهٔ

( " )

دا حقیقت دے چې یک د تخلیق په پیمانه خپل اعتبار اونهٔ بایللې نو بیا ئې د هیئت د وجود او ثبوت دپاره د هیڅ خارجي دلیل جواز نهٔ راپیدا کېږي خو د ظاهرپرستو نظر لنډ تنګ وي. او د هر څهٔ دپاره یوه ټاکلې شوې پیمانه او فرم غواړي. او په

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

دغه فورم کښې ژوند او فن دواړه بند یوان هم لیدل غواړي . دا خبره ځکه اوکړې شوه چې د ځینو جامد ذهنونو او رجعت خوښونکو عناصرو دا خیال دے کښې چې هایکو که د ۵ - ۷ - ۵ په اوولس سېلابېز ترتیب او نه لیکلے شي . نو هغه به ښځې هایکو نه وي . او حال دا دے چې داسې ناروا قدغنونه جاپانیان هم د تخلیق د فطرت په لاره کښې خنډ ګڼي . نو بیا آخر په دوي د اوولسو سېلابونو چېه چېه او ډلې ډلې پېریان ولې ناست دي . اوس که څوک په دغه ترتیب کښې ښه معیاري شاعري کېدله نو بیا هم یوه خبره ده خو داسې هم نه دي شوي . د دغې هیئت خوښونکي شاعري نه کوي بلکه ناست وي خپلې ګوتې شمېري او ځان ته ننړي او اوږدې مصرعې راپادوي او په لاس کښې د لفظونو خوږ ونکي او خوږونکي کباڼو راښېونو بې ځایه تکلف کښې خپل وختونه ضائع کوي . ګڼې چې دې ټوله سلسله کښې آورد په اُمد غلبه وي .

سوال دا راپیدا کیږي چې په دغه پیرایۀ کښې څه ځي ته راغلي دي . د شعر په پېمانه څه مقام هم لري او که نه دا ټول د غیر فطري اوزونو یو فریب او ریاضتي پېښه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حقیقت دے که جاپانی هایکو پښتو ته راځي نو
دَ پښتو دَ دود دستور دَ لاندې به ئې هیئت ، ساخت
او معیارونو او پیمانو کښې لازمي بدلون راځي. ځکه
چې جاپانۍ ژبه دَ خپل مجموعي مزاج او صرفي نحوي
او صوتیاتي جوړښت په اعتبار هم دَ پښتو ژبې سره
اړیکه نهٔ لري او س که پښتانهٔ هایکو تخلیق کوي نو
په هیئت کښې به ئې دَ پښتو ژبې او دَ پښتون قام دَ
معروضي حالاتو په تناظر کښې کیږي او زیاتے خامخا
راولي. ځکه که په اسالیبو کښې دغه بدلون رانشي
نو بیا دا ټوله سلسله هسې یوه لوبه ټوقه شي ځکه
نو داسې عناصر وله پکار دي چې دَ نورو دَ ناپوهۍ دَ
فکر نه زیات دَ خپل مرسپین او مرغیچن ذوق جاج
واخلي او دَ پښتنې هایکو دَ تحریک مخې له دې نهٔ راځي
کښې نو دَ غو رځنګونو په دې سمندر کښې به لکه
دَ ګنګخرې لاهو شي.

ځني لیکوالکي چې پکښې ښاغلے اسیر منګل ، ښاغلے
اباسین یوسفزے ، ښاغلے روښان یوسفزے ، ښاغلے
غازي سیال ، پروفیسر محمد نواز طائر او رحمت شاه
سائل په اولني قطار کښې په نظر راځي . په دې بحث
کښې هم لوستونکي تېرباسي ګني چې هایکو دَ جاپان
نه نهٔ ده راغلي بلکه په پښتو کښې دَ کاکړۍ غاړې په

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل کښې وړاندې نه موجوده وه. دا خبره غیر تحقیقي، غیر منطقي او غیر اصولي ده. غیر تحقیقي په دې ده چې مونږ سره د کاکړۍ غاړې د ارتقاء صحیح معلوم تاریخ نشته. فقط د یو څو خوړو وړو وړاستو او کړو وړو نمونو په لاس راتلل د دې خبرې دلیل بیښې نشي کېدے. ګنې چې هایکو به د کاکړۍ غاړې نه را زېږېدلې وي. دا بستا یسلي بناغلي څو دومره پورې وائي چې د جاپان هایکو هم د پښتو د کاکړۍ غاړې نه راپیدا شوې ده. کمال دے د هایکو د صنف یو معلوم تاریخ دې چې ټولې دنیا ته ښکاره دے. او په پوره تواتر سره د ابتداء نه را واخله تر دې دمه پورې را رسېدلے دے. او حال دا دے چې پښتنو ادیبانو له تر اوسه دا هم نه دې پېژندلې چې د کاکړۍ غاړې څه ساخت، څه تاریخ او څه څه هیئتونه دي. او د کومو خاص موضوعاتو احاطه کوي یا په کلاسیکي شاعرانو کښې دا چا، چا تخلیق کړې ده. او دا هم چې کاکړۍ غاړه او هایکو په هنري او هیئتي حوالو د یو بل نه په څومره فاصله دي. که چرې دا دوېئے شي ګنې چې دا د هایکو اضافي کنټریبیوشن دے. چې په پښتو کښې ئې "کاکړۍ غاړې" را اووېستلې نو بې ځایه به نه وي. ګنې چې پښتنې هایکو پښتانه د

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ماضي د ورکو ننداړو تماشو ته راپاروي دي -
(او دا هم د هایکو کمال دی چې پښتانه ئې يو واري بيا
په تپه مښين کړل) .
د "هايکو" او "کاکړي غاړي" رايو ځای کولو
دعوی غير منطقي په دي حواله ده چې "کاکړي غاړي"
څه ادبي صنف نه دی . بلکه د اولسي لوبو ټوټو
دونړو ، اړونو او د لفظي او ذهني کرتبونو حيثيت
لري . بل ئې رواج دومره کم پاتي شوی دی چې اکثر
پښتانه پرې په خپله هم د سره نه رسي . د سوچ
مقام دی چې په کومو داوونو ښځونو کښي پښتانه
په خپله تېر وځي . نو جاپانيان به تر ښه اخر
څنګه اتر واخلي او بيا به ورله لا د يو ادبي صنف
مقام هم ورکوي . حقيقت دا دی چې د جاپان او د
پښتو ادبي تاريخ داسي لنډ ثبوت هم نه لري چې
کښي دغې مفروضي ته پرې تقويت ور اورسي . اوس
که چرې جاپانيانو د پښتو ادب نه څه استفاده کول
هم غوښتل نو د پښتو ژبي نور معلوم صنفونه نه
وو چې د کاکړي غاړي غوندې مجهول څيزونو پورې
په انختل . دي لړ کښي د قلندر مومند صيب رائے ده
چې پښتو ليکونکيو له نه دي پکار چې د هر راتلونکي ادبي
صنف جوړي دي په پښتون ثقافت کښي د کتلو ضد

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکړي. خاص کر چې هیڅ قرینه پرې هم شهادت نهٔ کوي.

دَ "کاکړی غاړې" او "هایکو" دَ اتصال او یووالي دا دعوی غیر اصولي په دې ده چې دَ "کاکړی غاړې" او هایکو ترمنځه دومره ظاهري، باطني، لفظي، معنوي، منطقي هیئتي، شعري، خارجي او داخلي لرې والې پروت دے. چې دَ دواړو دا یو ځائے کولو عمل دَ جهل مرکب په دائره کښې راځي اوس که دَ ذوق خاوندان دَ هایکو هیئتي ادلون بدلون ته یو نظر هم ور اوکړځوي نو ددغو یاد بناغلیو دَ راجوړې کړې شوې ډرامې ډراپ سین به په خپلو سترګو اووینې.

او بیا په تېره تېره بناغلے رحمت شاه سائل په دې حواله دومره خطرناک حد ته رسېدلے دے چې دَ سیاق او سباق نه یو خوا ته دَ ټپېتو دَ میتري شاعری دَ خزانې نه دَ درېو درېو مصرعو خودساخته اکایې جوړوي. او دَ هایکو عنوان ورله ورکوي که دَ بناغلي وس اورسېدهٔ نو دَ ټپېتو دَ کلهې شاعری نه به دَ څهٔ ورانړي ورستو دَ مصرعو په خارجولو او په څهٔ ضروري تحریفونو او اضافو هایکوګانې راجوړې کړي. دا رښتیا دي چې څېړنه هم دَ علمي او ادبي تحقیق لاري ښندې وي. نو بیا هم داسې ناروا او ناشونې کښېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو شکر وېستل پکار دي. چې پښتانهٔ اوس په چا هم
په پښتو سترګو باور نهٔ کوي. سائل صاحب ته دي
معلومه وي چې هايکو څهٔ د ګڼې لېونۍ مينه هم
نهٔ ده چې هر کس او ناکس به يې کښې دخيلې برخې
ترلاسه کولو خوبونه وينې.

بهرکيف د ظاهري هيئت نه يو خوا ته هايکو
يو داخلي صنف هم دے چې د لمحو ژوند او د ژوند
لمحې د جمال د احساس د لاندې په ژورو تخليقي تجربو
کښې رانغاړي. دا صنف د بنکاره وضاحتونو نه ځانته
يو بېله د رازونو لار را اوباسي. لکه د غزل د صنف
هايکو هم د رمزيت، اخفاء، اشارو، کنايو او استعارو
په ژبه خپل پېغام يل ته ورسوي. دا صنف د خپل
ورک داخل نه د انکشاف ساعتونه رازېږوي. او د
موجود نه زيات محسوس ته پام ورکړځوي. دا
رښتيا دي چې هايکو يو ادبي صنف دے خو هايکو د
يو سپېځلي تهذيب او کوتلي تمدن نامه هم ده.
هايکو د رنګونو او تصويرونو هنر دے. خو د
ژوندي تصويرونو هنر چې ځانته د جهان خواره
عکسونه راسټنوي ګڼې چې هايکو د متحرکو تصويرونو
خاموشه ژبه ده او د ژبې د خاموشيو ګويان اغوردے.
د هايکوګانو رانه تصويرونه که مونږ له څهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه راکوي او څه رازونه راته وائي نور شو تر و په سر راناه څه سوالونه او تپوسونه هم کوي - هایکو د تاثیر غور څنګ هم نه دے بلکه د یوې زورورې تخلیقي لمحې او باطني تجربې یو ښائسته او هنري اظهار دے. دلته لمحې تصویرونه کیږي او بیا دغه تصویرونه د نسلونو په تاریخ د انسان په نفسیاتو او د موسمونو په بدلون رابدلون او د تهذیبونو د زمانو په تېرېدو او هسک کېدو ورکېږي او ښکاره کېږي، ډوبېږي او رابرخېره کېږي او د انسان د ذات او کائنات ترمنځه فاصلې په مینه مینه او یاسې. معاشره په خپلو کړو وړو او خدوخال کښې په هنر هنر رابنکاره کوي.

ددې نه اګاهو چې د هایکو په موضوعاتو سرسرې خبره او کړے شي لوستونکو ته د مغربي او مشرقي ژبو د څینو هایکوکانو ترجمې په دې غرض ور وړاندې کېږي چې یو خو ورته د هایکو د 'افاقي تخلیق اندازه اولګي او بل په دې وسیله د مختلف قامونو د سوچ د انداز نه هم خبر شي - دغه رنګ د هایکو په مختلفو ژبو اثر او د مختلفو ژبو د هایکو په ساخت او موضوع د غورزېدلي اثراتو لږه ډېره اندازه ورته هم اوشي او بیا د پښتو ژبې د فراختیا، مېلمستیا، اظهارې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوت او جوهر پته ورته هم اوګې او دغه رنګ په دې بهانه د دنیا د نورو ژبو او پښتو ژبې د هایکوګانو څه تقابلي عکسونه هم دوي ته راوړاندې شي او دا شعور ورته حاصل شي چې د پښتو هایکو ساخت او هیئت ولې د دنیا د نورو ژبو نه ځانته او بدل دے یا دغه رنګ پکار دي.

## د انګرېزي هایکوګانو د پښتو ترجمې

ع۱

| | |
|---|---|
| The baby | ته دې ماشوم بچې ته نه ګورې چې |
| sucking his Thumb | خو مره په مینه ګوته رودي |
| Moon gazes | سپینه سپوږمۍ ئې دید نو نه کوي |

(Tom clausen)

ع۲

| | |
|---|---|
| First snow | د موسم واوره وربدل شروع شو |
| gathers | د انغرۍ نه ګېر چاپېره ګوره |
| all in | نن د یارانو محفل بنه ګرم دے |

(Barbura Ressler)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ

In a swing — اُچې په ټال پاندې جوتېه اوخوري او

The widening are — بیا راته اوخاندي دَشونډو په سر

of The smile — ډک دَ موجونو سمندر شمه زَهٔ

(John Thomp son)

دَ فرانسیسی دَ یوې هایکو ترجمه

۴ـ

vent dérangé, — هوا ته اوګوره پاګله شوله

on dance al'orage — دَطوفانونو په اوږو الوځي

c'est nuageet dobaTa — ستا لوپټه اودَ اسمان وريځې

دَعربۍ ژبې هایکوګانې او ترجمې

۵ـ

دروغ دي ټولې دَ دنیا دا ویرې

که دي رښتیا دَ کائنات اولیدل

دلته لویې ټوله الله لره ده

کذب کل الخوف کذب

احق الحق فی المعالم

الله اکبر الله اکبر

(مترجم پروفیسر عطیه جلیل عرب)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۶

چرته چې ځمه راته وړاندې ته یې
په نفره لاره هرکو ته پېښ قسم دے
د الله هو یو هنګامه جوړه ده
فی کل مکان انت یا رب
ای زمانٍ ایٍّ مکان
یزوی الصوت الله هو
(مترجم پروفیسر عطیه خلیل عرب)

د فارسي ژبې هایکوګانې او ترجمې

۷۷

اوښکې مې کمې کمې اوس تو ښېږي    گریه کم کم است
بلا موده اوشوه زما دننه    از زمانه یا در دل
د یو موسم حکمرانې جوړه ده    یک رنگ موسم است

۷۸

دانې باران د پشکال داسې وو    باران امسال
د اونو پاڼې زعفراني شوې تولې    زرد پریده برگ دل
او دیوالونه مې د کور راشنه شو    سبز شد دیوار

Scanned by CamScanner

## د سندهي هایکوګانې او ترجمې

ع۹

غرونو ته اوګوره هیڅ غږ نه کوي    ګم صم تیا کهسار
خو چې آزار ورسي شو دے نو    ماڻهن کي پیتر ڏسین پیا
اوس د پېرو عذاب انسان دل کوي    صدبن جا آزار
(اقبال حیدر)

ع١٠

هسې نه خان له تندې اوړنې ته    یاتيءَ جا جهرڻا
ورسې لږ غوندې لمبون خو اوکړه    ګولڻ سان ملي ویندا
نو د اوبو چینه هم دلته کښې ده    مڻان میرو پیاسا
(اقبال حیدر)

## د بلوچي هایکوګانې او ترجمې

ع١١

دا زړهٔ مې هسې بې قرار دے کښې    بے قرار انت دل
د هر موسم په ژبه دا نغمه ده    موسم انت و دارانی
د منزل لونو سپوري لرې نهٔ دي    دور نه لنت منزل
(پروفیسر غني پرواز)

۱۲ع

زۀ هم دَ میني دَ احساس قیدي یم — ھرۂ بنزیک آن
راله که غم که خوشحالي راکوي — درد بخشیت کہ دشی
هرڅه چې غواړي دَجانان خوښه ده — یاریہ کو لیگ انت
(ڈاکٹر علی دوست بلوچ)

دَ پنجابي هائیکوګاني او ترجمې

۱۳ع

پرېږده دَ سېورو تماشې نۀ کوم
زۀ دَ ختلي نمر رڼا ته ولې
دومره دَ لاندې نه نظر اوکړه
ڈھلدے سائے دے دل میں کیوں تکدی
میں بلندی ساں اینواں کیہہ ویہندی
میں تے یا نں ساں چڑھدے سورج دی

۱۴ع

خلقو ته ښکي دَ وفا زده کوم
اوس که زما نه هم جفا اوشوله
ځان له به یو څه دوه سزا ورکوم
میں سبق دینی آں وفا واں را
مینتھوں جے بے وفائی ہو جاوے
دونی ملنی این فر سزا مینوں

ددې مثالونو په رڼا کښې یقیناً چې د ژبو د تهذیب فرق به په لوستونکیو منکشف شوے وي. او دا اندازه به ورته هم لګېدلې وي چې د دنیا ثقافتونه په کوم نقطه را یو ځاے کېږي او په کوم پړاو بېلېږي.

بې ځایه به نهٔ وي که د جاپان د ځینو نمائنده هایکو نګارانو د یو څو هایکو ګانو ترجمې هم په دې مرحله رانقل کړے شي چې لوستونکیو ته دا شعور هم حاصل شي چې د جاپان زمکه او پښتنه خاوره خپلو کښې څومره ثقافتي فاصلې او جذباتي اړیکې لري.

ع۱۵: اوبهٔ په مخه رابېدارې شولې
نن چې ناسایه یو اوده ټلو ته
یو د چینډخې چې توپ اووهه

(باشو)

ع۱۶: څومره بې کچه زړهٔ رابنکون دے پکښې
دا د دوؤ غرونو مېنځے کښې لاره چې ده
د بنفشې ګلونه خاندي پکښې

(باشو)

ع۱۷: بېخي ورک وومه یو اځې وومه
چې مې یو اوچه ځانګه ماته کړله
د زړهٔ د خلاصه مې ژړلي دي نن

(شیکي)

ع۱۸؛ دَ خاموشۍ راخور جادو دې پکښې
دَ چینډ خانو اوازونه واوره
یو الله هو او الله هو دې پکښې

(بوسون)

ع۱۹ که دَ ما بنام تیاره خوره شي نوځه
نرګسي سترګې چې اور اونیسي
دَ زړه په لارکښې مې ډیوې بلې شي

(بوسون)

ع۲۰ ته دَ مارغانو وینا واوره کنه
وائې جهاز هوا کښې پورته شي او
خپلو وزرو له رپا نه ورکوي

(یا ماکوچي)

ع۲۱ ورځه زمونږ په سر اور وروي
دَ شپې مو وژني حادثې دَ فراق
په کومه لاره باندې تګ اوکړي څوک

(سانتوکا)

ع۲۲ ما سره مل زما خوبونو کښې ده
سترګې چې پټې کړم ښکاره ئې وینم
هغه زما نه جدا شوې نه ده

(سانتوکا)

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

ع۲۳، واوره، هوا او د باران شرقا وي
د جدايي په دې موسم کښې راشه
چې قافلې سره ملګرې شو مونږ
(اِسّا)

ع۲۴، اُف دا سپينې ږيرې بوډا اووينه لښ
چې سر وهلے پر وهلے ګرځي
په اديره کښې ترې نه لار ورکه ده
(اِسّا)

کېدے شي چې ځنې د وهم رنځوران دا هم وائي چې دا نمونې هسې بې ځايه راوړلے شوې دي. خو رښتيا خبره دا ده چې په دې حواله پښتانه لوستونکي په ورمبي ځل د هايکو عالمي تهذيب سره پېژندګلو تر لاسه کوي. او بيا په دې پسې ايي کښې لوستونکو ته دا هم خودلے شوې دي چې هايکو څومره سنجيده تخليق دے او د څومره تخليقي زاره چاودون غوښتونکے دے.

پاتې شوه دا خبره چې هايکو د کومو موضوعاتو احاطه کوي. نو ددې خبرې ښکاره جواب خو دا دے چې دا يو ادبي صنف دے او د ادب موضوع ژوند سره تړلې واړه موضوعات وي. ځکه نو په هايکو د موضوعاتو قدغن لګول ښېګي ناروا کار دے خو چونکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هایکو دَ هیئتي ارتقاء سره سره دَ موضوعاتي ارتقاء نه هم را تېره شوې ده نو بایېد چې سرسري ذکر ئې اوشي. دَ هایکو دَ هیئتي تبدیلیو په شان دَ هایکو دَ موضوعاتي تنوعاتو اصل مرکز هم جاپان دے ځکه نو دَ ځه وخت دپاره سپودې خپل اصل ته ورګرځولې کېږي.

دَ هایکو دَ موجد او باني "باشو" رائې ده

"دَ هایکو تخلیق کښې دَ ماشو مانو فطري روح ته نظر ورستنول پکار دي."

باشو دَ فطرت او دَ انسان ترمېنځه رابطه دَ هایکو موضوع جوړه کړه او بیا ئې په یوه ننداره کښې دَ کښو نندارو او تماشو سپودي هم په ګړا کړل. لنډه دا چې باشو هایکو دَ فطرت راز داره اوګرځوله.

"مسا اوکا شیکي" چې دَ باشو معاصر وو دَ خپلو لسو فلسفیانو شاګردانو په مرسته دَ هایکو موضوع ذاتي وصائفو او شخصي انفرادیت سره اوتړله او دَ هایکو دَ تخلیق سترګې ئې دَ انسان دَ داخل پټ پټو نو ته ور ستني کړې. خو دا سلسله ورستو دَ لفظونو یو ځنګل کښې بدله شوه چې معنې به پکښې ورکېدلې. ځکه خو "بسون" ددې رجحان غندنه اوکړه. او باشو ته ئې دَ ورستنېدلو بلکاره اعلان اوکړو.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بایا شي ایسا" د هایکو تخلیق د زبېښلي طبقې
او د وړو وړو بې وسو مارغانو ځناورو د دردېدلي
او رنځېدلي ژوند د اظهار سره اوتړلو۔

او بیا د جاپان د جدید هایکو لیکونکیو سرخیل
"سي، شي ماماکوچې" د هایکو د تخلیق خوره جوله
کښې د فطرت د تماشو سره سره د کائنات د تکویني
نظام رازونه او سماجي پېښو اسباب هم رااونغښتل۔

بهرکیف د موضوعاتو د تنوع باوجود دې ټولو
هایکو لیکونکو کښې فطرت او د فطرت متعلقات شریک
قدر او موضوع وه۔ خو په جاپان کښې د هایکو
لیکونکیو یو داسې ډله هم پیدا شوه چې د فطرت او
د فطرت سره تړلي عناصر او عوامل ئې رد کول شروع
کړل او د هایکو په تخلیق کښې ئې ددغې څیزونو نفي
اوکړه۔ د دوی په خیال تېرې لمحې او د فطرت د
موسمونو بدلېدل رابدلېدل په ذهن کښې د ماضي
د جاګیر دارانه سوچ عکسونه ورننه باسي ولې بیا هم
د جاپان زیات تره هایکو نګارانو د فطرت غېږه
کښې د خوب لیدلو عادت پرې نښودلو۔

ددې اختلاف په شا د تخلیق د ازاد عمل (Free
Imaginative creativity) او د تخلیقي انضباط
د (Serious Artistic discipline) متقابلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملونو انګازې صفا اورېدلې شي.

ترڅو چې د پښتنې هایکو د موضوعاتو تعلق دی نو پښتنه هایکو په دې لړ کښې په ځان لمېڅ قدغن نهٔ بږدي. هاغه ټولې هغې ځلې چې د پښتنو د ژوند تصویر ترېنه سازېږي. دا ئې په ځان کښې ځایوي.

البته اخلاقي قدرونه د پښتو د لاندې نهٔ راولي د پښتنې هایکو پېر ایه چاله هم دا بلنه نه ورکوي چې راشه په ماکښې د خپلو سفلي او حیواني خواهشاتو لټون اوکړه. یا په ماکښې د خپل جنس زده ژوند او ځنګلي مزاج تنداري اوګوره او س که څوک داسې کوي نو هغه پوهې شه او د هغهٔ خدائے.

زهٔ دلته یو واري بیا ددې خیال اعاده کوم چې پښتنه هایکو کوم اجتماعي عمل او اجتهادي بصیرت رازېږولي ده باید چې رعایت او لحاظ ئې اوساتلې شي. مطلب دا هم نهٔ دے چې د تجربو سفر دې په ځائے اودرېږي. ولې ترڅو چې په هایکو کښې نوې کامیابه او معقول هیئتي تجربه نهٔ وي شوې. نو د بې ځایه اختلاف سنګر پرېښودل عین روا داري ده. او بیا هسې هم د یوې کامیابې تجربې بې ځانه غندنه ژبې ته نقصان وررسوي.

د موجوده پښتنې هایکو کښه دا هم ده چې خپل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان او خپله جامه یې د پښتنو د ثقافت په رنګونو ښاېسته کړې ده. د داسې هایکو رانګ د پښتو ژبې د اوازونو، سیلابونو او انګازو ګټورې لحظې دي. پښتنه هایکو نه یوازې د فطرت هنداره ده بلکه د فطرت او روایت د اختلاط نه د رازېږېدونکو مظاهرو په ملا سورلې هم خوړې ګیا ده. پښتنه هایکو د فطرت او روایت په ګټېپېدونو پښه نیولې د ژوند تر تبدیلې لحظې رانیسي او نوې تنظیمي او هنرې ساه پکښې ورپوکي. دغه رنګ ځان له د ځ سره راټولوي.

باید چې پښتانه هایکو لیکونکي د چاپېره ماحول سره سره خپلې تخلیقي چینې او د ځان د ننه رښتیا په پوره هنرې پوستوالي او روانۍ سره رایو ځای کړي او د عظمت او رفعت نه هسېږېدونکي ترانې او سندرې ترې نه را اوزېږوي. یقیناً چې هم داسې به کېږي.

په درنښت درناوي
اظهار الله اظهار
لیکچرر اردو څانګه اسلامیه کالج
پېښور یونیورسټي
نېټه ۔ ۲۱/۶/۲۰۲۰

Scanned by CamScanner

# حوالې

۱- اظهارالله اظهار — راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي
۲- اظهارالله اظهار — کاڼي د ګل په لاس کښې خوندنه کوي
۳- اسمٰعیل ګوهر — مسکا
۴- دیدار یوسفزے، ډاکټر — نسکورې لیکې
۵- سهیل احمد "مدیر" — هایکو انټرنیشنل (اقبال حیدر نمبر)
۶- شکیل احمد نایاب — "پلوشې" غیر مطبوعه
۷- ناهید سحر — خپلو خوبونو له تعبیر لټوم
۸- نواز طائر، پروفیسر — خوبونه خپل کلي کښې
۹- محمد ایاز غزل — د بنا ستونو د مصر ا ورځې (غیر مطبوعه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئي مې دا ده چې بنده يُمه ستا
بريت اخر اووايه په څهٔ تاؤ کړمه
چې يوه ساه مې هم اختيار کښې نهٔ ده

❁ ❁

دَ اخري رسول امت کښې يُمه
اوس خو زما او دَ جنت تر مينځه
بيخي قسم دے فاصلې نشته دے

Scanned by CamScanner

څوک به زما له حاله څهٔ شي خبر
یو نوے داغ مې په لمن پرېوته
چې د ګلاب څانګه کښې ګل نیسکاره شو

❁ ❁

زهٔ د چا ملاسته غوا هم نهٔ پاسوم
شپې یې ځکه ستا د چم لېونې
ما په ازغو باندې راکاږې مدام

❁ ❁

څه دې د ورانې اېښې غوندې دے
بنهٔ به وي دا چې درته ګورمه نه
څو به د ځان سره په جنګ اخته یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زلفو سیورو ته مې خوب کولو
چې دَ ښېچې ژړا راپیاده شوله
په سرهٔ غرمه تر ښه راپاسېدمه

❀ ❀

دَ اسمانونو ورته سرخکته وي
گل به کرم دَ محبت، چرته چې
دَ ربل پاتلی دَغر سینه پرېکوي

❀ ❀

څومره شرمېږي دَبناڅست مېرمنه
ورته چې گورم په نظر دَ مینې
رانه دَ خوړ او بو کښې ځان غوټه کړي

Scanned by CamScanner

بې روزګارۍ چې مې بچې اولیدې
وېیل یې ګرانه بابا غم مه کوه
بیا به ټافیانو پسې نه ژاړمه

❁ ❁

شیرینې ژوند د شوګیرونامه ده
خپله ځواني دې چرته خاورې نه کړي
د زوړ دیوال سیورې ته خوب مه کوه

❁ ❁

رب دې اباد کړي خپل کورونه په دوي
خو یو ژور سوچ کښې راګېر شمه زه
پېغلې چې ما نه اتوګراف اخلي

ا لېونی سره به اوس څهٔ کوم
وائي که شل ودونه هم اوکړي تهٔ
نو زهٔ به يُم ستا يو وېشتمه ښځه

❁ ❁

زهٔ چې ترې لږ هم لرې کېږمه نو
راپسې ژاړي دَ ګودر غاړه کښې
ما دَ ګنګا په اوبو اولامبوی

❁ ❁

په يو غورځنګ سره اسمان ته رسي
وه لېونی ښغلې په خود کښې اوسه
تا لا دَ زمکې تل ليدلے نهٔ دے

په زړهٔ کښې وایمُ داسې مړ بنهٔ یمه
چې مې دَ سیند چپې تر لرې یوسي
دننګه غړی ئې نوره هم پورته شي

زړهٔ په یوه خندا لمبه داسې شي
لکه دَ اوړي دَ غرمې له تاوه
دَ ښار پاخهٔ کورونه اور اخلي

مینه په ځان ګواښي نهٔ رد کوي
تا یاسندې ښکله اعتبار اوکړمه
تهٔ خو دَ هر پېغور ره تېښته کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ د سپین لو کاروان ته لار مهٔ نیسه
په شا ستانهٔ کړه نظر و نه د ښکار
څه کور ته څه! چېرته سرتوره نشې

❁ ❁

اوښکې چې ستا سترګو کښې اوچې شي نو
د شپې تیارهٔ مې اندېښنې زیاتې کړې
د اسمان ستورې رانه لار بدلوي

❁ ❁

درسره حقې شرې نهٔ کومه
څه ستا د خېښ نه مې توبه شیرینې
خو راشه اوس دې رانه سپې کوړې کړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکار مو نهٔ دي د فرېب رنګونه
د سپرلي باده خپله لاره نيسه
هسې په موږ پورې خندا مه کوه

❁ ❁

مينه په هر موسم کښې خوند نهٔ کوي
په سرهٔ غرمه له کوره مهٔ را اوځه
د پشکال تاوُ دې ميراته نهٔ کړي

❁ ❁

ستا د قامت سوچ مې شمله هسکه کړي
چې بازارونو کښې د ښار جينکۍ
د سنګرونو په زور قد لوېوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ ژړا ارمان دې اوَرَزِي خــو
دغه يو څو څاڅکي باران شيرينې
ددې وطــــن دَ زمکې تاوُ زياتوي

❁ ❁

د سمنــدر سفر رایاد کړه کـښـه
رانه چاپېره طوفانونه ووخو
دَ ډوبېــدو راسره وېره نـهُ وه

❁ ❁

کور کښې دَ سپر اورو درک نهُ لګي
خوځان دَ هيڅانه هم کم نهُ ګڼم
دَ وخت دړې خمبيره لګي زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته وې مسافري مه کوه
لاړو د سر سپورې دې لمر خاوري شو
د کور دالان دې پړ پوڅه اوخوړو

❁ ❁

د یوې پېغلې دا یرې مې لوسته
ورته حیران شوم، ما یوه لحظه کښې
ګڼې بربنډې فرښتې اولیدې

❁ ❁

درد لا د اوښکو لار لیدلې نه ده
وږې چې مونږ د خپل وجود تاوونه
لا پشکال باراني شوې نه دې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بې وسۍ داستان لا ختم نهٔ دے
ستا آواره خورې ورې زلفې هم
دَ چا مزدور په سر ورېځې نهٔ شوې

❁ ❁

خُنکه مړه شي دَ نسلونو لوږه
هر څهٔ ښهٔ دې تېر دي خو غم دغه دے
زمونږ نه سترګې راپرېوځي هسې

❁ ❁

دَ حاسدانو شمېر مې زيات دے بلا
درد چې سېوا شي نو په نيمه شپه کښې
ستورې راپاسېږي اتڼ وا چوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغلمه څُم دَ پلوشو پـه اوبو
زهٔ ددې خاورې سره مینه لرم
خو دَ اسمان فکر مې هم کومه

✿ ✿

بنګړې دې مات دانه وانه پراته دي
له تانه زار، راسره ضد مه کوه
پرېږده چې فکر دَ روزګار اوکړمه

✿ ✿

زمونږ دَ کلي بې اسروځه شولۀ
کور ته به رسو کنه لار کښې به مرو
هغوي هڅريفک دے او کچه لاره ده

Scanned by CamScanner

ستې دې ښکرې د ځوانۍ تاوونه
وېره چې ښکل دې کړم خو خهٔ اوکړمه
سکروټې نهٔ بږدمه په ښونړو د ګل

ښوانبې منم له موره کمه نهٔ وې
خو که زما په کور کښې ګوټې وهې
هسې به ژوند د خپلې لور خاورې کړې

ساه راکښې نشته خو خبرې کوو
لکه په زول کښې چې بجلي لاړه شي
او د پکو پرې تاوېږې هسې

شیرینې وایه که زما په لیدو
د زړه درزا دې سوا شوې نه وي
نو بیا دا ستا غوږونه سره ولې دي

❁ ❁

د مینې کومه سلسله یاده کړم
د تیلي فون تلۍ چې اوغږېږي
وړم که څوک ماله په مرۍ غلي شو

❁ ❁

خوایږه د مینې راپېښ زو کړه هله
چې ستا بانه برند شي شیرینې زما
نو ګېږ چاپېږ توري مچۍ والوځي

ورک مې له ځانه حادثې کړې د ژوند
داسې مې هېر شې د ښائست يادونه
لکه چې اور د ځنګونه ورانه کړي

.
.

❁ ❁

پېغلې ځواني دې د سپرلي موسم دے
ستر ګې چې واړوې راګورې په شا
اسمان کښې پرق شي د باران شبه شي

❁ ❁

فطرت ښائست هم د انسان زياتوي
چاپېره اوخاندې ګلونه د رنګ
د رېل پاټلي چې د غر زړه کښې اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نه چې زړه ئې ونګینې نه وېستم
خو د فطرت ځنګلِ وحشي داسې دے
چې ښس ځانونو له پناه ورکوي

❁ ❁

د خدائے رحمت هم امتحان دي ګڼي
چا کښې هم مینه ورورولي نشته دے
دا د چینې اوبه چې کوم پله ځي

❁ ❁

خدائے شته مدام د ژوند سندرې وايم
زړه د ښمنې چا سره نه کومه
ما د خودۍ چینې اوبه څکلي دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معجزه د محبت اووینه

چې د درد څڅکه په اسمان خوربږي

د اور بڅرې د باران څاڅکي شي

❁ ❁

سېلاب چې راوړي د ګلونو څانګې

د خوشبويو قافله لوټ شوله جوړ

اوس به د کوم تصوير په دام ژوندی یو

❁ ❁

د نظرونو تماشې اوخوړي

د ارمانونو مې دنيا ورانېده

تا د رنګونو لوګې رانيوي

Scanned by CamScanner

اک یو تصویر زما په سترګو کښې دے
ماله به څوک د خوب تعبیر راکوي
باران وریږي او فصلونه سوزي

❁ ❁

ددې وطن فضا سپېره دومره ده
یخه هوا که هم راوالوځي نو
د چا غریب په خونه اور پورې شي

❁ ❁

آ لېونۍ مې چرته قتل نه کړي
دومره خرابه شوه فضا د وطن
څوک په رنړو اوبو کښې ځې نه ډوبي

تپوس کوم خو خفه کېږې به نهٔ
دومره دې سترګو کښې وحشت ولې دے
ته که د ښکار سپو زغلولې نهٔ ئې

❁ ❁

کور ته ورځه رب دې سر تور نهٔ کړه
بې لوپټې حُسن رسوا داسې شي
لکه چې رنګ د لولکې والوځي

❁ ❁

د ښار سپېرمنې خپل خاوند ته وئيل
خدائے شته له تا ئې سترګه هم نهٔ پړيږي
ستا د دفتر چپړاسي ما تنګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته معلومه د دښمن توره ده
چې نده مدام کړې په زور د اوبو
ته ترینه لاس واخله نو هیڅ به نه وي

✽ ✽

که درته غین نه کوم ته ې نه اوځې
پرېږده بې خونده دې دې شه پېشم
ته د موکې په زور تمپونه وهې

✽ ✽

پېښ نه کلو نشته د خور او د لور
ددې وطن زلمي خو داسې نه وو
څوک مې دا زهر کړوي وینه کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ په ساحل د سمندر ورک شمه
د درد د زانګو سېل را والوځي او
د اوازونو په مرګ غلې شي

❀ ❀

دومره اوچت تونه شـله ولې
زما خبرې تا هم غوږ کېږدې لږ
څوک دې الوځې او ښنده نکړې

❀ ❀

د سر پروا مينه کښې نۀ کوم څو
دومره زما قتل اسان مۀ ګڼه
زۀ څه ويستلې اوږه هم نۀ يمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت که د سلو پر دو شانته یمه
د نظر پرق به مې در اورسوي
هوار د تندر په اوږو الوځم

د خوشحالۍ بنیاد په غم وي ولاړ
زما په شونډو خندا خوره شي
لا د غوټۍ زړه خو چاودلې نه دے

اوس خو به ستا ده چې راشې او که نه
شیرینۍ ته چې مې په خټک کښې نه ئې
نو پلوشې مې د سپوږمۍ سوزوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ روح زخمونه مو له شمس اوو تل
مهٔ خوشحالېږه لېونی که په مونږ
اسمان دَ کاڼو باران نهٔ وروي

❀ ❀

څه ته مي زهر خوړوه ویته کښي
خو چي زما دَ مینې زور اووینې
مرګ هم دَ نیمي لاري ستون شي زغلي

❀ ❀

اسمان بلنې دَ راتلو راکوي
ستوري ګډا کوي په ساز دَ مینې
څوک چي سواره شو دَ هوا په اڅکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب دې ژوندی لره خوشحاله اووایم
د کتو کور دې زړه د کاڼي کړلو
مینه اوس تا باندې اثر نه کوي

❁ ❁

شیرینې مه ځه د هوا مخې له
چې ستا د زلفو خوشبویه شي خورې
په اور کښې اوسوزي ورځې د ګلو

❁ ❁

زړه به بلا بلا مزې غواړي خو
طوفان دې، مه اوځه له کوره بهر
د خپلو زلفو دام کښې ګیر نه شې

Scanned by CamScanner

سپوږمۍ له تانه یو تپوس کومه
په نیمه شپه د سمندر ننداره
رانیسي ولې د اسمان لمنې

د غټې غوښې نه پرهېز کوه لږ
وازګه دې ډېره په بدن اوخته
نیمبو څوړ کړه د قهوې پیاله کښې

د خودداری د اسمانونو مینځے کښې
ځکه زنګېږمه جوتې خورمه زهٔ
چې ما جوته د چا خوړلې نهٔ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جذباتي شوې ځان به اونه مومې
د خپل رفتار تېزې د لاس لاندې کړه
اُس د ځوانۍ دې واګې اونه شلوې

❀ ❀

د زړه د درد منزلې سر ځنګه شي
مینه روانه د اوبو غوندې وي
ژوند خو د داورۍ چم دے زر ویلې شي

❀ ❀

په سمندر کښې دېر مرېر شي غرونه
ته چې پستې پستې خبرې کوې
زړه مې د کاڼي په رنګ ټق اونه چوې

Scanned by CamScanner

یمه ژوندے ستا د لیدو په امید
ولې د نمر د پلوشو سپوږمۍ هم
تیاره څاپېره په ګودر خوروي

❁ ❁

اوس بخیل وس بخیل اختیار کښې نه یم
ما چې رنګینې لوپټې اولیدې
د زړونو سیل ځان سره یوړمه زه

❁ ❁

ستا د ښائست لمبې مې مرې په زړه کښې
خپله پسته سینه کښې زور راکړه لږ
د ژوند دا شورې چې ته کانړې نه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناز شمله به مې راټیټه نه شي
نمر چې پرېوځي نو زما شېرینې
شفق شفق څادر به تا غوړوي

❀ ❀

تا چې تر منځه لوېښه اووېسته
سپوږمۍ زما او ستا شوې لارې جدا
ته به فانوس زه به ناموس پسې ځم

❀ ❀

پوی شومه اوس چې پښتنه پېغله یې
مات چې کړل ما ستا د زندان سیخونه
تا د پیشو پښې په ما ځنې کړې

Scanned by CamScanner

دَ پاغوندو باران لمبه لمبه کړم

زهٔ لا په دې فریب کښې ګرځومه چې

دَ واورې غر لا وا نو ستلے نهٔ شې

❀ ❀

کله ګونګټېږي دَ سندرو ژبه

ډېر کهٔ ئې غږونه په شا اوتمبوې

اووربږي نهٔ دَ اوازونو سفر

❀ ❀

زموږ دَ کور چت که راڅڅي په موږ

شکر په دې خېره هم اوپاسو

چې په تالا مېدان خو پاتې نهٔ یُو

له حد نه نهٔ اوځم خوځهٔ اوګرمه
دَ هاغو نرمو ګلورينو ښونړو
جوته چې اوځکمه، جوته جوته شم

اودريږي نه دَ قيامتونو سفر
خو چې په کور کښې جينکۍ سغلې شي
اواز دَ تندر غورزيدو واورمه

ځنګه شي ختم ازميښتونه دَ ژوند
چې يارانو نه دَ سپرلو کښېږي نو
يوسي شيبې دَ لوکو رنګونه

اوس زهٔ فالګی ته لاس په خهٔ اوښایم
ستا د تندي ګونجې لیدلي دي ما
زما د لاس کرښو کښې هیڅ نشته دے

د کمپیوټر نه مې پوښتنه اوکړه
اوبهٔ په ډانګ باندې بیلېږي که نه
دې کښې یو پلار په ځیګي ډزې اوکړې

لا د ادراک منزل نه ډېر لرې یُو
یو نسي سترګو نه خوبونه زما
د ورک نظر تعبیر مې مهٔ راکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د قتل تور در پورې مه شه
ته چې په کړسه کړسه خاندې جينۍ
پام کوه ماته زاتر غاړه نه شې

❀ ❀

کړې مې يوازې د مابنام تيارۀ کښې
چې خپل غرور تر ښنه لمبه پورته کړې
بيا مې په سرۀ غرمه کښې سپورې نيسې

❀ ❀

دا چې د غر په چينه څۀ شوې دې
ستا د پېښنې بوشړنګ را اونيسې او
بيا مې تر لرې انګازې خورې دې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ به ډوبېږي په ساحل کورونه
چې خاموشۍ د غزالیو سترګو
د سمندر د شور بنیاد ایښی دے

❁ ❁

ستا نه قربان شمه زما شیرینې
تا چې زما په شونډو خوله ایښې وه
هاغې یوې لمحې مې ژوند خاوري کړو

❁ ❁

د موسیقۍ لمحې خپله ژبه نهٔ وي
پکښې مدام ستا سندرېز خیالونه
د ژوند رنګونه، تصویرونه وېشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې شم پوے دَ اخترونو په خوند
کشتۍ کښې څې، شي له نظره پناه
او زهٔ دَ سیند په غاړه ناست پاتې شم

❀ ❀

دَ سروې اوبهٔ چا ته نهٔ تیتېږي
ده قدرمنده په دا حال، کښې نو
نهٔ خو میوه نیسي نهٔ سیورې لري

❀ ❀

څه چې دَ ستورو په لټون کښې اوځو
رانه چاپېر دَ سمندر اوبهٔ دي
دَ جزیرو مینځ کښې ژوندون تېروو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د داتلو بنګالو خوره شوله جوړه
دي چې د ټول کلي غوږونه ولاړه
د زړه درزا مې نوره هم تېزه شوه

❀ ❀

جوړه تېره توره د نمرخېړه شي
راشي په مينځ اوښلوي تال د بوډۍ
د پسرلو باران مې لا زړه وي

❀ ❀

د شين اسمان باران په شرق اوګه
په کومه ورځ چې د کيدر وادۀ وي
بنارسي په سر دې اوښۀ وينم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منه اوږده بانړه دې مه پرېږدوه
ستا شاهیني نظر چې پوره شي نو
وایم که باز چرته مرغه اونیوه

❁ ❁

زه ځنځورن نه یم شیریني زما
د اوښکو پړق مې ستوري هم تت کړي خو
تورې چشمې په سترګو کړې دې تا

❁ ❁

خیل احساسات مې په غورځنګ داسې کړي
چې د سرخکو سیل راپوره شي نو
زه د اسمان غاړو کښې والوځمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیریني څه! رب دې ودانه لره
ستا په کنځلو مې زړه نه بدېږي
ما د سیندونو رواني لیدې دي

❁ ❁

څه که یاران پرې د سپرلي ورېږي
چې د غرمو تاوُ ترېنه رس وېستے وو
د هاغو اونو پاڼې شنې نه شولې

❁ ❁

خوک هېرولے شي د ژوند حادثې
هوا چې لمسي پاڼه هم خوزوي
وېم که جونګړه مې طوفان یوړله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائی منمه چې سړے ئې شریف
خو ژوند هم ځان له غرقولے نهٔ شم
ستا نه خو سترګه دَ چا هم نهٔ رپي

❀ ❀

ستا په سر کلي سره شر کړمه، خو
بې وجې خنګه چاته لاس واچوم
اوس څوک په اوچه هم لامبو نهٔ وهي

❀ ❀

ډېر لوے عذاب دے دَ احساس محرومي
زهٔ خوشهٔ ستا لار کښې ولاړ نهٔ ومه
تا دَ موټر هارن په څهٔ اووههٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ دَ دردونو دَ صحرا تنده يم
ساه چې مې کله په وتو شي نو بيا
څه اے شته له شرم نه او به شم

❁ ❁

دَ تعبيرونو په فريب تېر وتم
ما چې په لاس کښې لنوکۍ اونيوه
نو دَ ښائست رنګونه ټول والوتل

❁ ❁

جوړه کړي قيامت دَ لوپټو الوتل
ستوري راکوزشي دَ کودر په غاړه
او دَ او بو څاڅکي اسمان ته رسي

Scanned by CamScanner

سوچ کښې شي ورکه چې دریاد شمه زه

ریموټ په لاس کې وي ته ناسته وې او

چینلې هسې بدلوې لیونۍ

❀ ❀

که دې په زړه کښې وي ارمان د مینې

هلته راځه په بهر ته بیا ځرته چې

د پوخ سړک نه کچه لار بېله ده

❀ ❀

د سمندر طوفان مې ځان سره وړي

ستا نرګسې سترګې رایادې کړمه

پورته د ستورو چم ته او خېژمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُسن دَ مینې په خوند څه پوهېږي
ستا دَ یوې خندا نه زار شیرینې
خورې ورې دَ کهکشان سلسلې

❀ ❀

اوښکې دې اوچې له بڼو کړه کښېنې
دا دَ احساس چپه به تا ورکه کړي
غمې تښیدلي مه دَ صحرا شګو کښې

❀ ❀

ځان رابرڅېره کړی دَ زړونو درزاء
دَ محبت اواز خو نهٔ ورکېږي
اوس هم فضا وراني زموږ سندرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانړهٔ خاپونه دي زما شیریني
نوي دلدل کښې دَ ژوند خنده کړي
ځه رانسکاره کړه چې یو لار را اوځي

❀ ❀

اوښکې خو کانړو کښې هم لارې کوي
خو چې نرمې پکښې را تغله ذره
دَ اوچې دم دے څوک ئې څه اونیسي

❀ ❀

ذرهٔ ئې یو درز کړي چې دَ کلي غریب
بکرې ترک وهي اور اولګوي
په نیمه شپه چرته قیامت رانشي

Scanned by CamScanner

ټک ورکول خو وي فطرت د لړم
خدای شته چې یو ورځ به دې مړ کړي په چا
د ډمې لور څهٔ فرښته خو نهٔ وي

❀ ❀

ساه چې د وخت جبر ته راکاږي څوک
داسې د زور سیلۍ را والوزي چې
په بله واړوي د چم کورونه

❀ ❀

کاڼي د غرهٔ له سره اورغړوي
چې مخ په لاندې ځي کورونه وران کړي
خو د طوفان د زړهٔ نه تاؤ نهٔ اوځي

تهٔ چې دَ سیند په غاړه کور جوړوې
ډېر مبارک دې شه زما تسېینې
خو که سېلاب راغی نو بیا به څهٔ وي

❁ ❁

ښځو ته اوګوره چې واګې شلوي
دَ کټ په لنګه ئې بورقه پرته وي
په یوه خپه ګرځي په ټول کلي کښې

❁ ❁

خو ښه دې خپله خو وېرېږمه زهٔ
تا دَ کولال هنر بې لارې نهٔ کړې
جوړ دَ یوې خټې نه ټول لوښي دي

ستا تورې سترګې څنګه هېرې کړمه
ما دَ زم زم په اوبو هم اووینځه
خو دَ لمنې داغ مې هغسې دے

زړه چاته سپک کړمه شیرینې زما
دَ راز خبره درته ما کوله
خو ستا دَ خولې برغولے هم نشته دے

څوک هم دَ ژوند په خوږو پوهه نشي هیڅ
لکه دَ کلي دَ تهاتګي مزدوري
څه دَ اوړو څه دَ بونو اوړسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې پرې شل کاله خواري کړې وې
هغه تصویر مې کباړي بازار کښې
په یوه نیمه روپۍ واخستو نن

❁ ❁

تپوس کوه مه، د ځوانۍ د مینې
خو په سیلۍ کښې بادیوه اوخته
او د یو چیک سره ئې تار اوشلو

❁ ❁

زما په خپل زړه باندې وس نه رسي
خو چې د رحمه ستا د چم په اړخ
تهٔ د هوا څپو کښې زنځیر اوتړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تک شي عذاب د اسمانونو په لور
لمسي چې هم راته سپوږمۍ اوخاندي
ستوري مې وریت کړي په چابک د رڼا

❀ ❀

دا د فېشن جهالت هم اووینه
اُ چې الف ته هم کوتک وائي تل
د کتابونو ستهال کښې ګرځي مدام

❀ ❀

خوب ته مې نه پرېږدي د تن زخمونه
ژوندے احساس مې تر سحره پورې
د ستومانۍ ویستو سزا راکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وفايي کښې دې هيڅ شک نشته خو
ساه مې اوباسې دَ الفت سادګۍ
زړ درله جوړه دَ اوړو پوزه کړې

❁ ❁

سمېږې نه زمونږ دَ ښار جينکۍ
که ترې چاپېره دېوالونه تاو شي
اوخاندې زړ دَ کودکړۍ بېړته کړې

❁ ❁

حُسن په هر رنګ کښې قيامت جوړوي
زلفې چې واړوي له مخه په شا
دومره رښا شي چې نظر اوسوزي

Scanned by CamScanner

اوس چې د شپې کور ته ناوخته ځمه
او وائي رب دې ځواني مرګه کړي ما
جانه! چې بیا ستا نه ګیلې نه کوم

❀ ❀

تل مې تېر یاسي د الفت په فریب
بد دې بلا د تورو سترګو آزار
زه په شینتغه ښځه واوړېدمه

❀ ❀

وایم چې ښکل دې د تندي کوڅې کړم
زړه کښې چې هیڅ د مینې تاو نه لري
مړاوي به څه شي د کاغذ ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته رایاد ستا دَ لمبې خوانږهٔ کړي
اوس چې دَ هر چاهتیلي فون راشي نو
خدایګو زما دَ زړهٔ درزاء تېزه شي

❀ ❀

شیرینې زړهٔ دې لاندې باندې نشي
اُچې تهوتې تمانچه ګر ځوي
خدا ے شته ویرېږي له هاګی دَ ډزه

❀ ❀

ستا دَ خپلوي ارمان مې هم اورڅېد
خو ساه چې اووته دَګل دَ زړهٔ نه
نو سر تور سر مې خوشبوې اولیدې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدلے نهٔ شي دَ بنائُست رنګونه
تهٔ ګورهاګے ئې دَ فطرت لاسوکښي
دَ موسمونو په فرېب تېروځې

❀ ❀

یوه لحظه چې هم هوا بنده شي
دَ زړونو شور دَ غوږ پردې اوشلوي
ما دَ خُشکل طوفان کښې مهٔ ګېروه

❀ ❀

دَ طوفانونو زور په شا تمبوي
دَ محبت یوه نازکه خندا
له تاترې دَ سترګه هم پورته ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته څوڅخې هم ګونګې شي په خوله
د اوازونو دا ویجاړ کلي به
د خاموشۍ په ژبه څوک پوېږي

❀ ❀

څوند کوي څومره سوزېدل مینه کښې
چې سروي ببغلې مې نامه اخلي
اورونه واخلم د چنار اونه شم

❀ ❀

څوک به دې اوورني د خپلې ویرې
او به خورې سر چې ازمرې ته یې ته
هسې غرمبېږي د لومبې بچیه

Scanned by CamScanner

خدای شته هیڅ ته ملامته نه یم
که د مینې په تول روان یمه خو
د خپل رفتار سلسله نه ماتوم

❀ ❀

داسې د هر ستوري لټون مه کوه
پام کوه کور دې غرغنډې اونکړې
اورونه کړې د رڼا جامه کنې

❀ ❀

د فطرت ناوې څومره ظلم دے دا
ځان ته غاوره شي د نمر پلوشې
په چا رڼا کړې، څوک په اور سوزوې

ستا خود سرۍ خو په ما سر ګرځوي
که ځنګنړۍ ته هم کوږدن شولې ته
په ځم صلت کښې په حلوه اووښم

❀ ❀

بښېرازه پېغلې دَ وادهٔ نه ورستو
خوند داسې داړوي تپوس مهٔ کوه
لکه کتهوۍ کښې چې کبان پاخهٔ شي

❀ ❀

حد ماتول وي هسې ځان درکول
اٰخر به ماته شي یو ځز به اوکړي
څو به هوا په پوکنۍ کښې پوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیل چاله ورکړه دا بچې غمېزه کښې
دَ خاورې خوند زما په خوله کښې دے لا
زهٔ ستا دَ کوړې په خوږو خهٔ کوم

❀ ❀

اوس که څهٔ وایم ګنهګار به شمه
هسې په ما باندې تهمت لګوي
خپله خندا دَ ګل په وس کښې نهٔ ده

❀ ❀

نوے چې مار له په مرۍ غلے شي
دَ غوږ پرده مې دا آواز وشلوي
ژوند ګوګړاګے دے دَ فطرت لاسو کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملې نه شي د څوانۍ زورونه
د سمندر دا کم ظرفي اوويــنه
په يو غورځنګ باندې اسمان ته رسي

❀ ❀

چې د بچي ژړا راپاده شــوله
زه ستا د لارو نه واپس راغلمه
بيا مې ځنګل ته ازمرے اوشړه

❀ ❀

مسافرۍ دومره اساني نه دي
چې چکر ونو کښې د ژوند راغله نو
سپوږمۍ ته ګوره نيمه پاتي نشوه

Scanned by CamScanner

په نیمه شپه ستا د راتګ انتظار
پروت یم چې ویښه د اسمان د لاندې
لا دې په ما باندې چلې جوړوي

❁ ❁

لوټه مې مه د دلاسو په فریب
پروا مې نشته که له تندې مرمه
دا له غلبیل کښې اوبه مه رانیسه

❁ ❁

چې معمولي تبه په ما راشي نو
وینه مې ناسته د پالنګ سرته وي
په سر مې ټوله شپه زوروونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو قید کېږي نهٔ راځي عشق
که دَ ښائست جوبن دې تېر شو نو څهٔ
مراوي لا نهٔ دي ستا دَ یاد ګلونه

❀ ❀

د ښائستونو ئې بلا واخلمه
چې په دروغه تر ېنه هم خفه شم
خوب ورله نه ورځي بیا شپې رڼوي

❀ ❀

ما ئې تر مېنځه روغه رانهٔ وسته
زهٔ د وارو دلو خېل دښمن ګڼلم
لاړ په پردي ښر کېږي سرا ونورهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو درد بدلې پښتون ماته وېل

ما دَ مړانې انجام هم اولیدو

ځکه وېښ په مه دَ خپل سپوږې نه

❁ ❁

خدائے شته چې مرګ موهم ورلے نهٔ شي

چې مو شیندل سر ونه، لار کښې دَ حق

دَ کربلا تاریخ مو بیا نوے کړو

❁ ❁

راپټېږم دَ اسمانونو غرور

په سر مې توره اوښانده دهٔ خو

دَ سر بازۍ لوبې مې پرښې نهٔ دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دَ غریب صحرا کښې نهٔ تېرېږي
زخمي احساس به اخر چرته اوړم
ستا دَ تصویر ستر که رنده اوخته

❁ ❁

دَ حبس نه مړهٔ نهٔ شو شیریني زما
تازه هوا به اوس په کومه راځي
هاغه یوه دروازه هم پورې شوه

❁ ❁

شیرینه دا هم اوربدلے نهٔ شي
ورته چې وېم زما برخې خوبه ده
زر شو نړۍ او چې انګن ته اوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې سپوږمۍ تندر نیولې ده جوړ
پړده کښې نغښتې پلوشې دَ نظر
زما په زړهٔ باندې تیارهٔ راولې

❀ ❀

ځان تړینه تل په فاصله ساتمه
خو بیا چې هم ارام ته نهٔ پرېږدې ما
زړدې وادهٔ شي چې ترې خلاص شمه زهٔ

❀ ❀

منه دَ طمعې کور خالي وي منه
څهٔ په جرګو باندې صحرا ته دَرڅوند
باران چې راشي نو طوفانونه اوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دَ رقیب په خوله باور مهٔ کوه
چرته په خر باندې هم ناسته نهٔ دَ که خو
وائي جهاز کښې مې سورلۍ کړې دې

❀ ❀

دَ پېغلتوب پېغلتوب پچې راپارې نهٔ کړې
بلا موده اوشوه شيرينې زما
چې هرو خوله مې په خوله اېښې نهٔ ده

❀ ❀

دَ ناوې توب نخرې دې نهٔ منمه
مهٔ ويسه پلار کره دَ تلو خوبونه
اوس خو دَ شلو بچو مور شوې نهٔ

Scanned by CamScanner

اُ دَ طلاق دَ نوم نه مرګ ښه ګڼي
خو آزادۍ ئې دومره خوښې دي چې
چرګ چې هم بانګ اووائي بام ته رسي

هاغه خوبونه مانه هېر نه دي لا
لاس چې به تا په سینه کېښودلو
او کوړکو چرګو به هاګۍ شاربلې

نور مې ماتم په بې وسۍ مه کوه
ستا په بڼو چې اوښکې اوښکې شي ژوند
شغله شغله ستوري په ما پرېوځي

که یې ګواښونه دَ نظر لیدے وے
نو مشرانو به وېلے نهٔ وو
جنګ نهٔ بایللے نه ګټلے بنهٔ دے

❀ ❀

نهٔ مې رانیسي او نهٔ ځان راکوي
دَ مـداري لور ده شیرینه زما
پړے راسست کړي پړے راکاږي بیا

❀ ❀

چې خپله نیولے راته اودرېږي لښ
نو دَ بناښت سپړلي تلوار اونیسي
خانه بدوش شي چرته کړه اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درپسې سیند خوځان کولے نهٔ شم
یوه دَ مینې سندریزه څپه
اوبو را اوړې وه اوبو یوړله

❀ ❀

شیرینې څومره زړهٔ راښکون وو پکښې
تا مې مرۍ باندې چاړهٔ راښکله
او ما دَ نوي ژوند تصویر ښکلوُ

❀ ❀

سوچ مې کاوُ څومره بې رحمه دے ژوند
بر ببوکیه مې کړې دَ سیند په سینه
بیا راله یو لحظه کښې سر ماتوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ګلونه مې راوړل دوخو
چې ته راتلې نو شيرينې زما
کاڼو په ما پورې خندا اوکړله

❀ ❀

څه خوندور د مينې جنګ دے کنه
زه چې ترې پورته په کوټه اوختم
اُ د اننګو مينځ ته راکوزه شوله

❀ ❀

د مخ سرخي مې په اوبو لاهو شوې
داسې بدل کړم ازمېښتونو د ژوند
لکه چې سرو سره پاره اوکې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منافقت دَ ژوند وژلمه خو

نن چې ماشوم بچې په مخ ښکل کړمه

ما وې که مانه فرښته جوړه شوه

دَ چهت پکې بې حده تېز تاوېدهٔ

چې ورله مخې له مرغۍ ورغله

ما ته ئې خپلې بې وسۍ یادې کړې

ښځهٔ ورته په ډه خو غږ نهٔ کوي

اُف دَ کوچوان کاکا ټانګهٔ کلې کېږي

هره ورځ څو مره حادثې زېږوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو امکان مې دَ خپو لاندې دے خو
چې ستا اوږدۀ بانړۀ رابرند شي په ما
دَ خپل ایجاد لاره کښې خنړ جوړ شمه

❀ ❀

دَ لوګو مینځ کې ژوند خاورې کړو
چې دَ رنګونو تماشې له تلمه
نو دَ بنائست کلي کښې سپو مات کړمه

❀ ❀

لوږې کوه نهیڅ درته غړ نۀ کوم
ستا دَ فریب فریب بنائسته لوګے
زۀ دې دَ ژوند په حقیقت پوے کړمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېم که څوک ماته اوازونه کوي
په نیمه شپه رانه خوبونه تښتي
بیا به پېریان بوتل کښې نه بندوم

❀ ❀

چپ مې د سترګو نه راغلې وو خو
چا راته وېل تا ئې صفت کړے دے
څکه په خپل تصویر مئین شومه زۀ

❀ ❀

دغې چکر خو زمانې اوخوړي
ستا د رفتار مخه نیولے نۀ شم
څم چرته څان له بله لار ګورمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې زما په شا ولاړه وې نو
زه د خپل ځان نه خوزېدلے نه شوم
ستا پېښتانه مې ځکه ملا ماته کړه

✿ ✿

ناوې زما مانه خوشحاله څه شي
کش چې شي تښته مې درزاء شي د زړه
د ښاپېرو وطن کښې ژوند تېروم

✿ ✿

خپله خپل ځان راټولولے نه شي
د اباسين چپې به هېرې شي ستا
که دې رنګونه د اظهار اولېدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای شته په تا پاندې مئین یم خو
مینه د نورو سره څکه کوم
د ژوند ډرامه کښې مې کردار دغه دے

❀ ❀

ستا لو پټې ځان کښې را نغښتے یمه
چې د سفر په نیت روان شمه نو
د هرې لارې په سر تا اووینم

❀ ❀

زۀ سر د لاندې راګوزار نۀ شمه
نن د ژوندون د کوهِ قاف لارو کښې
ستا د وجود خوشبوئ رقص نکوی

Scanned by CamScanner

څومره کم ظرفه د فطرت ناوې ده
ته چې په لپو کښې اوبه راکوې
واخلمه اور تنده مې لا زیاته شي

✿ ✿

وایي د خپل زړه نه مجبوره یمه
که ته مې اور ته هم وراچوې نو
دواړه لاسونه به دې زه ښکلوم

✿ ✿

د سپو نه ځان خلاصول ګران خو نه دي
بس یو هډوکی ورته واچوه نو
دوي به پرې خپلو کښې جنګونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو اعتبار خاورې شو
دَ امتحان مرحله تېره نهٔ ده
چینجي غونډېږي دَ کابل مېوه کښې

❀ ❀

په خپلو وینو ئې لاسونهٔ سرهٔ وو
یوې ماشومې په سلګو کښې ویل
توبه، نکرېږي به بیا نهٔ غواړمه

❀ ❀

زهٔ به دَ څهٔ نه توبه اوباسم
یو خوا روا کارونه نهٔ کوي څوک
بل خوا حیا راځي شرمېږمه زهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان به په اوښکو کښې را اونغاړمه
د ګلاب پاڼه به کشتۍ شي زما
بيا د سيند په سر هوار ګرځمه

❁ ❁

سمند رونه مې خوټکېږي زړه کښې
په دې طوفان کښې چرته ورک نه شمه
ته مې يوه اوښکه ليدلې نه شې

❁ ❁

زه چې د خپل ښکي ژړا اووينم
هيڅ په ځان پوې نه شمه پاسه زر
ځان د مور غيږې له ورا ورسم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس خو ایمان دې خدای نصیب کړي زما
زه نه ولي یمه نه پیر فقیر یم
زما په قبر دې میلې نه لګي

❁ ❁

لمبې دې د مینې په خوند پورې نه کړمه
ستا نازبینتوب له سره خلاص نکړي ما
پاسه د مور خوا له دې ځان رسوه

❁ ❁

د لوږې تندې نه به مړ شي اخر
لمڅې سپین بږیري مزدور ماته ویل
د لونو ګټې ته څو لاس نه نیسي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم دَ ځان سره دهوکه ده یوه
اوږې بچي چې مې په خوب اوده شي
لاړې مې تېرې شي زه ساه واخلمه

❁ ❁

واښې زه خپل پالنګ ته ځان رسوم
نوره بېخي ایسارېدے نه شم
ستاسو کتهونو کښې کټمل شوې دي

❁ ❁

زه له دروغو نه نفرت کومه
خو له وطنه چرته اوتښتمه
خلق مې وژني که رښتیا وایمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته د کور لاره هم یاده نه ده

تا چې وروننه د زندان لرې کړل

اوس به د زړه دردونه چرته اوړم

څه که د شپې د بلا خوله وازه ده

خو زما لارې له راتللې نه شي

زه ستا د سترګو په رڼا پسې ځم

دلته په یو حال کښې هم خبر نشته دے

څوک چې له غاره د نفرت راووځي

د محبت توره ئې سر غوځوي

Scanned by CamScanner

را باندې پوے ده ځکه مخ واړوي
که خپل غمونه يې پېرزو کړل په ما
مړ به له ډېرې خوشحالۍ نه شمه

❀ ❀

تا ته ګناه نشته شيرينې زما
که ازمېښتونو نه په شا شوې دَ ژوند
چا په توده زمکه قدم ايښے دے

❀ ❀

يو اکاڼۍ ده تول دَ مينې جهان
اوږده بانه چې اورکې پاسوي
ستورې په نيمه شپه اتڼ واچوي

ساه دانه اونهٔ ځي ويرېږمه زهٔ
چې ستا تصوير سره خبرې کوم
مانه زما دَ زړهٔ درزا هېره شي

❁ ❁

ځان چې په ما هسې کوڼ کړے دے تا
اخر به خپله لاره واخلمه زهٔ
تر څو به تا ته اوازونه کوم

❁ ❁

چې ئې دَ زنې خال ته ګوتې نيسم
شيرينه ما باندې راسره غونډۍ شي
وائي زهٔ سپينه يمه توره نهٔ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تصویر ته په ژړا کښې وائې
دَ تورو غرونو پناه شوې ئې خو
ستا دَ راتلو خوبونه اوس هم وینم

لور چې اوده شوله زما غېږه کښې
راسره غم شو ما ویل ځان سره
ستا پېغلتوب راته خبرې اونکړې

ګڼې نو ما به څه څهٔ نهٔ وو کړې
خو دَ رشتو مېنځې کښې راګېر دا سې یم
خوب هم پخپله خوبه نهٔ وینمه

Scanned by CamScanner

رب به دې روغه کړي شیریني زما
ستا بیماري که ډېره هم لویه وي
د رب د فضل وړاندې هیڅ هم نه ده

❀ ❀

د ذهنیت نه ئې خبر یمه بنسه
رقیب چې ستا په حقله سوچ کوي نو
دا په ډېران اګربتۍ بلوي

❀ ❀

زه به ورځم د حادثو مخې له
که مې د ژوند اوربشه پاتې وي نو
دا تندرونه ما وژلې نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویړوي دَ دروغژنو ربښتیا
چې په اسمان کښې بجلي برق اوځي
نو طوفاني شپه توره هم درنه شي

❀ ❀

هسې نه تورې په لمن پورې شي
څو کورونو ته هم سیّب اونګي
چې دَ اوبو وتلو لار بنده شي

❀ ❀

کومه ښکلا دې وایه اوستایمه
ستا اننګي چې مړاوي مړاوي شي نو
دَ موسمونو نه خراج اخلي

Scanned by CamScanner

نور د سپرلو په ذکر نه ستړي وځم
واړه رنګونه چې راټول شي په ځلے
نو ترینه ستا یوه ادا جوړه شي

❁ ❁

څه خپله لار نیسه پروا مه کوه
ماښکے چې ځي د اوازونو په لور
نو سمندر ترینه کشتۍ ډوبوي

❁ ❁

توره او ډال به غورځولي وو ما
خو چې غښبږي د حالاتو شپه نو
چاپېره پړق د اورکو اووینم

Scanned by CamScanner

چې دَ بدن وږمې دې بښکل کړمه نو
بیا دَ ګلونو بڼ کښې نه ځائېږم
ما لولکۍ ځان سره واسوزوي

داسې دَ ګلې دَ چینې په غاړه
چې ستا ښائست دا له اواز راکوي
زما سندرې به ګونګې څنګه شي

په خاموشۍ باندې ئې مه تېروځه
دَ فرېبونو مرحلې غوڅې کړه
چې زور پرې راشي نو اواز به کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شوې دَ ګلې او دَ ښار فاصلې
کشځې پرانستې جینکۍ را اوځي
او طوفانونه سر راپورته نه کړي

✿ ✿

ننداشتونه دَ جلوؤ مه کوې
زمونږ دَ ګلي دا کڅه کورونه
دې طوفانونو ته دَ ټیټېنګي نه دي

✿ ✿

څوک ترېنه ستر ګې پرانستلې نه شي
زمونږ چم ته دَ سندرو په ډاډ
هوا راوړي دَ لوپټو سېلونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې ریموټ باندې چینل بدلوې
شیرینې دې سوچ کښې راګیر شمه زه
د سلسلې دې رانه ورکه نه کړې

❀ ❀

اوس مې تصویر هم پېژندلې نه شم
پر دوو درشلو مې نظر یوړلو
زه د خپل کور په دروازه ننه وځم

❀ ❀

اے د باران شپه دې جوړه هېره کړله
کچه کوټه چې څڅېدله په تا
او تا زما د کور زنځیر شرنګوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کښې اکېوازې ناست يمه زه

دَ کتاب پاڼې اړوم په مخه

اوس مې په سترګو خوک لاسونه ږدي

❀ ❀

اووايې ستا خبرې نه ختمېږي

مور به زما ميراته پاتې کړي ما

څه چې کونترو ته دانې واچوم

❀ ❀

بې شکه ته يې زما وهم ګڼه

خو زه په هېڅ هم باور نه کوم

ما دَ ګنجې لاس کښې ګو منځې ليدې ده

Scanned by CamScanner

ما په مرۍ دَ غوا چاړهٔ رابښکله
خو چې مې ستا اوښکو ته پام اوکړو نو
خدای شته زما نه کلمه هېره شوه

❀ ❀

زهٔ به دَ درېو پورې هندسې شمارمه
تهٔ که دَ خپل مدار نه اونهٔ وتې
دَ خپل خاوند سر به دې غوڅ اووینې

❀ ❀

وایم چې شل وزه دې زهٔ اُولم
توره چې لاس کښې دَ دښمن ورکوې
بیا ترې دَ سر خېر وَ نه غواړې ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاتله ته که ما وژل غواړې نو
بسه په اخلاص راسره مینه اوکړه
زه په ګواښونو درکو نه مرمه

❁ ❁

زه په الوتې لوګي پسې تلم
لا رانیوه مې چې ازاده مې کړه
ما د مرغۍ خوله کښې ملګې اولیده

❁ ❁

اوس مې دا خور وجود راټول څنګه کړم
چې ځانځ پکښې ولاړه دې سته
نن مې هم هاغه اینه ماته کړه

Scanned by CamScanner

ذرې ذرې شې دَ ښکارې تهو یکه
ساګانې اوځي له تنکو پېغلو نه
تهٔ چې دَ زانګو په سېل ډزې کوې

خدای شته چې ځان به په خمار اوچېچم
خو که مې یاد وي دَ ښائست مېرمنې
ستا په کمڅو کښې به ګلاب نهٔ ږدمه

هر څهٔ چې کېږي خو لندن ته نهٔ ځم
دَ خپلې مور یوې خندانه به زهٔ
دغسې شل شل یې. ایچې. ډېر زار کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حادثه هم معمولي خو نهٔ ده
پېغلې چې ما سره تصوير وېستلو
ګوره زما سره کښې رېل ختم شو

ګام تر پښه څنګه په خفګان واړوم
لکه دَ بُت مې ځان ته کلک اودروي
يوه لحظه کښې دَ پېرو قيصه ده

شيرينۍ تا چې ورته ګل لږه کړو
سيند خونړى شولو په واک کښې نهٔ دے
دَ ګلي سرهٔ خوله ما شومان ړوبوي

Scanned by CamScanner

ځنګه راغلې یمه ستا کلي ته
شیریني هېڅ رانه تپوس مهٔ کوه
ما دَ خپل زړهٔ دپاسه خپې ایښې دي

❋ ❋

سر چې مې خوښ کړي نو شیرینه زما
وایې زهٔ دا دَ وینو کرښه ګودم
چې دَ دریاب اوبه ئې چېرته اوړي

❋ ❋

وه لېونۍ له کوره مه راوځه
چاپېره کلي کښې سیلۍ الوزي
په تا به لاره کښې لمن واړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستوماني لږه ويستل او غواړي
هوا يې پاڼې پاڼې خور کړي وجود
د ګل خندا هم حادثه ده د ژوند

❁ ❁

شيريني اوس او وايه څه او کړمه
ما د خپل زړه د غل نه ژبه پرېکړه
خو ماته بيا هم اوازونه کوي

❁ ❁

پرېږده چې دغسې دې خلق رټي
درته به ګفت قدري چا کړې نه وو
خو ستا په خوله کښې هره ژبه نشته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې تنګې غوښتنې وس کښې نهٔ دي
که تا پرې ستر ګې راوېستلې وې نو
داړه به دومره په سر نهٔ ووختې

❀ ❀

دا ساده ګې ئې نشې تور په لمن
ګوره چې تېز باران کښې ښکلې جينۍ
د لوېشې د لاندې ځان پټوي

❀ ❀

پلار دې زما بابا ته بنه کړې دې
که ته زما په خوله باور نهٔ کوې
درشه د مور نه دې پوښتنه اوکړه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره وړاندې نه پرېکړې بنسټ ده
داسې چې بوس وکېږي اوبه یوځي نو
هسې نه ورستو ترې لانجه جوړه شي

❀ ❀

تو پوهنه بنسټ نه وي نادانۍ جینه
که لاس او خپه دې لږه هم شي خطا
بیا به د سترګو لګېدو نه اوځي

❀ ❀

د کلي دا دستور مې خوښ نه شولو
پېغلې کټوې په نغرې پرېږدي او
د کاڼو نړۍ کړه تنور لمبه کړي

Scanned by CamScanner

آ چې آنګڼ کښې به چړقاوُکوُ تا

او زۀ به تاسو کره درغلمه

نو څومره خټې به ترې جوړې شولې

په زړۀ کښې ځان سره کړم رېبمه

دې کښې به خاورې سترګې ورشي زما

پالنګ چې توله شپه چغار کوي ستا

خاورې څوک پوې شي په خوند ونو د ژوند

زموږ وطن کښې چې سپېرلي راځي نو

لوږه د مینې په اوګو سوړۀ شي

دَ سینګکو غوندې ژوندون دے زما
توره تیارهٔ کښې پلوشې وېشمه
دَ ګلبدنو لاس کښې اور واخلمه

❁ ❁

نن یو سپین بږیرې په ژړا کښې ویئل
لو نه مې تښتې ایساریږې نه اوس
بیا به طوطیان په کور کښې نهٔ ساتمه

❁ ❁

خاوُرې به وده زما قام اوموې
اونه چې هم دلته راپورته کړې سر
زلمي ئې څانګې په تبرونو وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا خو دې سترګې غړېدلې نه دي
د ژوند رنده به دې هوار داسې کړي
دا سترګې سپورې به له تا هېرې شي

❀ ❀

د ژوند يوې غرمې دې زور او به کړو
دا حادثې خو به راځي او ځي به
او لا خو ستا د زنې خال تازه دے

❀ ❀

يو د اتيا کالو سپين ږيرې بوډا
ګورې په ډش باندې بربنډ فلمونه
او ناست دے لاسو کښې تسبې اړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې د سیند په غاړه ناست یمه زه
او د اوبو چپې را ناوُ شي له ما
وایُم که ستا د زړهٔ درزا ء تېزه شوه

❁ ❁

سترګې چې مانه اړولي دي تا
زهٔ د ساحل طرفته زور کومه
خو د دریاب چپې مې ځان سره وړي

❁ ❁

نن خو مې ټول بدن دړدونه کوي
شیرینې غېږه کښې مې کلک اونیسه
که ستومانۍ مې د وجود اووتې

Scanned by CamScanner

ته ګل فروشه، زه مئين د ګلو
ستا او زما نظر کښې ډېر فرق دے
ته په شپېلۍ زه په شپېلۍ پسې ځم

❁ ❁

اوواځې دا فضول خرڅې نه منم
هاغه مېرمن مانه خفه ده په دې
هفته کښې دوه ورځې پانځې خورمه زه

❁ ❁

ساده جينۍ ئې هسې ځان ولې خوري
هغوی د شمعې وجود څه اوزغمي
څوک چې په ګلي کښې سکاره پېټوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې زلمي د ښار د پارک په څوله کښې
څومره د خپل مقام نه لاندې راځي
چې د موټر تورې شيشې خېږوي

❁ ❁

لاهې د ژوندون غوښتنې نه پېژنو
خدای شته چې سل کاله په ورستو لاړو
موږ چې يوه کښته کښې ده وړاندې کړه

❁ ❁

دا بې حسي به مانه ساه اوباسي
د ژوند احساس پکښې غورځنګ نه کوي
ستا د ځوانۍ تصوير په خوب اوده دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو رو مې تا نه اعتبار پاسېدهٔ
ستا محبت هم اخبارې بيان شو
دَ پروف خامه پکښې بلا ډېرې دي

❀ ❀

دَ ژوند په داسې مرحله کښې يمه
هر يو ماشوم چې راته اوخاندې نو
زما پرې مينه دَ بچو ماته شي

❀ ❀

چې يو طوطي مې بنديوان اوليدو
وېل مې کس جوړ په پنجره کښې شومه
رب دې وزرې دَ چا نهٔ پرېکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په اسمان کوږې وريځې راشي
ماته د هاغې چم قيصه ياده کړي
چې اوسيدونکي ئې سيلاب اوړي وو

❀ ❀

خدائے شته د کور مې دروازه نشته دے
خو زه راکښې په دې فريب کښې يمه
چې هواګانې ماته ور ډبوي

❀ ❀

زړه مې درزيږي چې ئې اونه وينم
د سميه او د نعمان مينه مې
په خپل حسان باندې هم ماته نه شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خیال اوباسه ستوماني شیریني
څه بې حجابه دي دَ نمر پلوشې
ستا تصویرونه په دېوال جوړوي

❁ ❁

درنې وریځې په اسمان شوې خورې
اوس دَ ځنګل نه په تلوار را اوځه
دلته دَ تندر غورزېدو ویره ده

❁ ❁

اے دَ رنګینې لوېټې مسې منې
ته چې اوده ئې او سیلۍ والوزي
وېرم که هندو رانه کشمیر یوړلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګودرونه د ښائست بلبله
چې د اوبو ښاځکي را اولي په ما
نو چار چاپېر په کلي اور پورې شي

ته که سوره شوې د هوا په اوګه
خو د اثر نه مې وتلې نه شي
زما د اس رفتار به تالاندې کړي

زه چې سر تور سر جینکۍ اووینم
په زړه کښې ځان سره کړم رېبمه
د وخت طوفان به مونږه چرته اوړي

Scanned by CamScanner

ما له زما دَ سوال جواب راکړه تهٔ
مېړمنې نيت که دې صفا وي دَ پېين
بيا په وېښتو ولې حضاب لګوې

❀ ❀

تا چې زما په لاس دستخط کړے وو
داسې شو وران لکه درياب دَ کلي
کچه کورونه په اوبو لاهو کړې

❀ ❀

ځان مې په اور پورې نيولے دے بس
که زما سوی ځي ته پام نهٔ کوې
ما سره هيڅ نشته ثبوت دَ مينې

مینې د زړې مازیګر کړمه ژړا
تا چې سپینې پوړۍ را خطا کړمه ځو
پوه نه خطا کېږي ژوانه شپه تېره شوه

❀ ❀

غم زما زړه داسې خوړلې نه دی
د ږيرې چې ځان پاڼدې خوار غر کړې دي
خو د خندا هغه چې زده نه شوله

❀ ❀

دغه احساس به پېرها اوږدې ما
پیغلې چې هسې هم تندې کړوي
وایم که ماته سلامونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که زه مرمه خو خوا ږه به وښم
یوې کمزورې د انار اونې نن
یو زور اور طوفان په شا تمبوو

✿ ✿

نن مې جوړ بله خودکشي اوکړله
ستا لوپټې نه چې مفلر جوړ شولو
زما شمله نوره هم هسکه شوله

✿ ✿

دغه علت به تر پته خنګه اوځي
د بېدارۍ نغمه چې وایمه زه
زما د قام زلمي په خوب اوده شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کانړو ښار دے ګورې پام به کوې
بیا به خپل ځان راټو لولے نۀ شې
ستا دَ سنګار آینه ماته نۀ شي

❁ ❁

دا خپل ښکارې فطرت به ما ړوبوي
چرته چې اووینم روانې اوبۀ
وهم که په زانو پسې منډې وهم

❁ ❁

ګوتې به مروړې بیا، خوښے به نۀ وې
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګورې
وه لوګے په فاصله ترې اوسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د بقا د اندېښنو مېوه ده
که د تخلیق شعور بېخي نهٔ لري
نو چرګه ولې په هاګو ناسته وي

❁ ❁

د موسمونو جبین اوخوړې جوړه
د ښار پخه بنګله چې ته پرېږدې او
د کلي شاړ کور ته تړې کړه کوې

❁ ❁

نو د کېبل تارونه مهٔ خوروه
زما د ژوند تصویر ترې نهٔ سازېږي
ستا د تهذیب رنګونه ما اولیدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کاڼو ښار دے ګورې پام به کوې
بیا به خپل ځان راڼو لوے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❀ ❀

دا خپل ښکارې قطرت به ما ډوبوي
چرته چې اووینم روانې اوبهٔ
وېم که په ژانو پسې منډې وهم

❀ ❀

ګوتې په مروړې بیا، خوښئ به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګورې
وه لوګی په فاصله ترې اوسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د بقا د اندیښنو مېوه ده
که د تخلیق شعور ښځې ته لرې
نو چرګه ولې په هګو ناسته دې

❀ ❀

د موسمونو جبین اوخوږې جوړ
د ښار پخه بنګله چې ته پرېږدې او
د کلي شاړ کور ته ترې کړه کوې

❀ ❀

نو د کېبل تارونه مه خوروه
زما د ژوند تصویر ترې نه سازېږي
ستا د تهذیب رنګونه ما اولیدل

Scanned by CamScanner

له دې دښمنو نه بهر راوځه
لا که خبرې ئې زده کړې نه دي
دَ ښارونې مخوکه مه پرېکوه

✿ ✿

چې په ځنګل کښې په ما شپه راغله نو
سپوږمۍ دَ اونو منځ کښې ځان پټ کړلو
ځان ته دَچا سترګې را یادې کړمه

✿ ✿

خدای شته زما دغه مطلب خو نه وو
ما چې در یاد کړو دَ مشکنو امیل
په تا نرۍ نرۍ خوله راغلله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا صحبت کښې مې خپل ځان کاڼه کړو
لاس کښې مې هیڅ نشته شین یې زما
تا له ګجرې له کومې راوړمه زهٔ

❀ ❀

ستا سادګۍ مې زړه وړي. لیونۍ
ته له هغوي نه د خپل طمع کوې
څوک چې مدام ګلې کښې سپي جنګوي

❀ ❀

د انتظار لمحې قیامت وي ګلې
زهٔ داسې څاڅکے څاڅکے ویلې شومه
لکه ګلاب چې څوک په اور اونیسي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ئې زما د پاره کور پرېښے وو
ا لېونی دومره بې وسه شوه چې
زما کتاب په کباړي خرڅوي

دَ دواړو روغه اوس بلا گرانه ده
لاره دَ ژوند تړې بيله کړې ده ما
وخت په يوه ځې زهٔ په بله ځمه

نن يو بوډا ته اُيسنې اووېل
ستا دَ غوږونو ويښته اُم سپين شو خو
اوس هم دَ پېغلو په خندا تيروځې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د صحرا غریب کڼې ژوند تېر و

خاورې سمون او خورې کارونه زموږ

ناست یو مدام له شکو پرې غرو

❀ ❀

نه زور منو او نه زیاتی کوو موږ

واوره د امن په غریب کڼې ورکه

موږ ته د باز منبوکې نه پرېکوو

❀ ❀

تازه تازه وې د دلان سپورې ته

پازه ئې مراوې کړې د نمر پلوشې

بېغلې زموږ د مینې پلانټ غوندې دي

Scanned by CamScanner

ښکاره کوم يې د ځوانۍ رنګونه
زه د فطرت ناوې د لاسه نيسم
او په ډولۍ کښې يې د خيال کېنوم

❁ ❁

شيرينې ګرځم د کلام لارو کښې
چې ستا د ژوند غمې رايادې شي نو
د ګورو اونو بڼ کښې اور واخلمه

❁ ❁

او منه سر به دې د خپو لاندې کړم
په ښځې فريب کښې راګېرېږمه نه
زه د مارانو نسل ښه پېژنم

که یو څو ورځې وي برداشت به کړم
زه دومره لویه سینه هم نه لرم
چې تل به ستا ماشوم له پېره ورکوم

❁ ❁

زه دَ ګناه بازار ته هم تلے وُم
خو چې دَ مور اوښکې رایادې شوې
توبه مې اوویسته واپس راغلمه

❁ ❁

لار پېکښې نه مومې دَ نمر پلوشې
تازه هوا پکښې بېخي نه لګي
دَ ژوند په داسې تاخانې کښې اوسو

زما په تشو کتو اور لمبه شي
خو هاغه وخت کښې د پښتو چېرته دي
دَ ښار درزيان چې درله ناپ اخلي

❀ ❀

دَ اٰبادۍ پکښې درک نشته نګي
دَ ښس مغانو اوازونه اورم
په ما په داسې ځائې کښې شپه راغلله

❀ ❀

اوس زهٔ دَ کلي په ناموس باندې مرم
ما چې مې لور ښکل کړه په دواړو مخو
یو دَ رڼا سېلاب کښې ورک شومه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پلوشو سفر دې وړاندې ځي خو
دَ بناڅتو نو دَ سپوږمۍ انتظار
زما په ځ تورې حلقې جوړوي

❀ ❀

ستا په يادونو کښې مې ژوند خوندي شو
دا دَ درياب دَ سر نقشونه نه دي
چې حادثې په ئې دَ ځان سره وړي

❀ ❀

شيرينې ستا خو ځلوبه خوبنې وي
چې خپلې بدې ورځې ته اوګورمه
نو زما سپوره نمرې هم اوښلې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ پابندي چې په تا نهٔ لګوي
مخ کښې هر وکي راو ستلي دي ستا
تهٔ دَ خاوند ازاد خيال يوړلې

منم چې تهٔ ما سره مینه کوې
خو زهٔ دې بیا هم خپلولے نهٔ شم
ستاسو دَ کور چار دیوارۍ نښته دے

هیڅ ازادي راته حاصلې نهٔ شوې
وضاحتونو کښې مو ژوند تېر شولو
مونږ ه په یو بل اعتماد نهٔ کوؤ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې وېښل خېلو همزولو ته نن
چې د ښکارې د سترګو شمع مړه شي
هله په خپل پالنګ کښېږي خوب اوکړه

✿ ✿

ته د کابل يوه ساده پېغله يې
زه خوشحال بابا چې نزدې راځې خو
څه! د بابا پوزه دې مه پرېکوه

✿ ✿

د ښار ميرمنې ته خبر يې که نه
د يو مزدور سترې ستومانه وجود
څو مره دمه شي چې ستا کور اوينې

Scanned by CamScanner

چې منډې ترړې مې د ژوند سترې کړې
سترګو ته ستا تصویر را وړاندې کړمه
زهٔ د وختونو له چکر نهٔ اوځم

❁ ❁

اوس زهٔ پخپله په ځان شک کومه
ټول راته وائي بدعمله يې تهٔ
مینې زما د ځې ګونه ورانه کړه

❁ ❁

ما دې په سر لوئې دعوې کړې وې
خو تا زما د لاسه لاس راښکلو
اوس زهٔ په کوم تاخ کښې ډاګې واچوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرق دې اولګی رسمونه د بنار
چې د کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما د هوسۍ کټ کبنې میلو اولیدهٔ

❁ ❁

خومره بسیاره دے دریاب د مینې
وېم که ما تخت د سلیمان قبضه کړو
بېغلې چې تا ماله تا فې راکړله

❁ ❁

د یوې بېغلې بې وسي مې وژني
تندره ماتېږي نه زما د نظر
ناوې که ټوله د کالو دکه شي

Scanned by CamScanner

تهٔ راته خاندې خو شیرینې زما
دَ ژوند له خیږ نه مې باور پاسوې
ستا په کمڅو کېنې چې ګلاب مړاوي شي

❀ ❀

دَ هر سپېلي دَ موسېدو نه غمګينې
مونږ دَ نختر دَ اونو کُر کړے وو
ددې سړک غاړې خالي ولې شوې

❀ ❀

بوټي چې دي لښ هم په اوږدو پړپوځي
لکه دَ چړګې اواز نه کوي
تهٔ دَ تخليق عذاب زغملے نهٔ شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوره راغلې چې ساخښي له يې ته

سترګې له تا نه څکه نه اوباسم

چې دغه سترګې دې ويستل غوارمه

زر ده چې شاړې شي چمن د ګلې

اوس که زلمي چرته يو ځاے اوينم

خپله درنه او د بل سپکه وانې

سر توري مه راځه زموږ ګلي ته

تا چې په کومه زمکه خپه ايښې ده

هلته د خلقو نه ځا مې اوتې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مرګ په خوله باندې دَ ژوند زېرے دے
هلته چې ستا سرهٔ اننګې اوبوشو
دلته دَ کاڼو نه شغلې اووتې

✿ ✿

دَ ښار بې حسه مرمرينې پېغلې
کله چې ستا بدن خوَله اونيسي
وېرم که څوک بُت دَ سومنات لامبوي

✿ ✿

يوې ښارۍ راته سلګوکينې ويل
تا ته زمونږه دَ ژوند پته نشته
هره دَ ښار جينۍ خرابه نهٔ وي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سمندر ځپې شمارلې دي ځيا
زما دَ غم ما نه تپوس مهٔ کوه
چې ته حساب کتاب کښې تېر نهٔ وځې

❀ ❀

اوخاندې ماته لېونۍ اووائې
ځان دَ ژوندون سختو ته ځکه نيسم
دَ غرهٔ لمنه کښې ځينې را اوځې

❀ ❀

دَ احساساتو ژبه مهٔ کونګوه
دَ خوشحالو اظهار دَ ځان دپاره
دا کسه اکانې ضروري نهٔ کېږي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مې د ژوند پنجره کښې بند لیدلو
چې د وجدان دروازه بېرته شوله
ما د زرګونو کالو لاره سر کړله

❀ ❀

ښتګه به حق د چارا لاندې کړمه
ما د ربل ګاډي د پایو منډه کښې
د یو مزدور د سر ټوټې اولیدې

❀ ❀

جوړې زما ضمیر په حق اورسېد
ګوره چاپېره اذانونه کېږي
خو د خپل ځانه نه هره ورځ نه وهم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې له ئې نهٔ راوړمه ورېم کوي
تا چې د سود په مال خیرات کړې دے
په ما حرام شه، د خنزیر غوښه شه

❀ ❀

لمسي بې ځایه اندېښنو اوخوړي
کښې نو ستا نه کښېږ چاپېږ شیښې
قلا هم تاوُ ده او ړنا هم شته دے

❀ ❀

تبه که ستا سِر ته ختلي نهٔ ده
پېرېږده د مینې په جواب کښې به تا
د خپل کاکا زوے ته کنځل نهٔ کول

Scanned by CamScanner

اُف څه تپه تپه شیرینه وائې
دَ هائیکو نوې جواب نشته دے
ځکه دې اظهار غوندې غزل اوليکې

هره موقع دَ لوبو ټوقو نهٔ وي
کار چې وران اوکړې نو نخرې مهٔ کوه
هسې نه تاله پـه مرۍ غلے شم

زما ناموس له هرڅه مخکښې دے نو
دَ خپل قامت پروا دې هم اونکړه
دا مې په کم فهم کښې تصویر ځایوې

ما درته خپل خون در غنبلے دے خو
دومره را اووایه تشیں ینی زما
ته مې د ژوند جواز په څه رد کوې

❁ ❁

څه لیونتیاري خپله لاره نیسه
ته ورته ښکنې ورستو کېږې څله
سپي به په تا پسې زغلیږ اوشلوي

❁ ❁

چاپیره ګورم او قدم اخلمه
زه د ناموس ساتلو غم کنې مدام
تل د بنکاري د سترګو لار څارمه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا شخصیت دَ اوبو ځګ دے منه
څه که دَ خپل خاوند ناموس نه شولې
بیا اخر بڅه ځان ته وائې په څه

❀ ❀

اَ چې له ورایه به ئې زړه اولیدم
او ناګهانه به ئې خوله ګونګه شوه
اوس دَ طوطي په شان خبرې کوي

❀ ❀

وېم که څوک مایاندې کورې ورووي
دَ پښتنو ښځې چې اوویښمه
دَ ډکړې دپاسه خپې واړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم زما دَ سوي ځګر شيريني
بېغې په تا باندې اثر نشته خو
ګل دې په لاس کښې پاڼې پاڼې شولو

❀ ❀

یو ښځابي راته پېغور کوؤ چې
اُ پښتنه پېغله مدام ما سره
دَ سیکس موضوع باندې خبرې کوي

❀ ❀

پېغلې چې نن ستا دَ دُرشل مخې ته
ماتې ټرندې دې دَ بکسونو پرتې
ځا جوړ دَ خپله کوره غلا کړې ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کائنات دَ ذرې درزا یمه خو
چې ستا دَ سترګو رڼائي ته شي
وایم که غار کښې دَ تیرو بندي یم

❀ ❀

ګوتې چې شمارمه په سوچ کښې ورک یم
شپیږ یې ماته لیونے مهٔ وایه
دا خو زهٔ ستا بې وفایې یادوم

❀ ❀

ستا دَ فریب له ژوند نه مړګ بښهٔ ګڼم
دَ سمندر چپو ته ځان سپارمه
خو دَ کاغذ کشتۍ کښې نهٔ کېنمه

Scanned by CamScanner

دَ هایکو ناوې خبره واوره
اوښکه زما دَ بدن ټوله وینه
خو زما قام ته اورکې پړقوه

❁ ❁

ښیږي رب دې په امان کښې لره
ستا به دا اوښکې له ښهو اوچې شي
خو زۀ به څاڅکي څاڅکي ویلې شمه

❁ ❁

دَ موضوعاتو لمنې کمې نشته خو
ستا دَ بناسُت لمن چې نهٔ پرېږدمه
په ژوند دَ مینې حکومت غوارمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر ماښځه نه پس دعا غواړي دا
ماتې کړي ربه دَ دښمن لاسونه
زما جانان ته چې تاوان رسوي

❀ ❀

واوره دَ خور او لور ناموس ساتمه
بیا داسې ما یاندې راتېږه نهٔ شې
ګنې نېږه کېنې به دې سر پورته کړم

❀ ❀

دَ ښار او بو درنه لښه اووېسته
شور چې شي ساز، په سوره ننوځې
تا خو دَ سر دپاسه سر نهٔ منهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې په سترګو باندې بښنه نه لګي
ستا ځانګېدلې پرتوغاښې خاورې شه
د مخ سرخي دې په اوبو يوړلې

❁ ❁

ته چې ځې ځي خبرې کوې
زما جانان زما نيازبين ښځه
ورم چې په دواړو مخو ښکل کړمه تا

❁ ❁

اوس راته خپل زخمونه ښايي ځله
چې په يو ځائې کښې ګړ وړه جوړشي نو
بيا پکښې هرڅوک په غونډ سکو لګي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به سنګار له د ځان څرته درومې

تاچې په کاڼي زما مخ ویشتلو

نو اینه دې د کور ماته کړله

پوزه دې پرې مه شه د قام لپونیه

دا تا د کلي په دې شاړه لاره

اووایه لهر مازیګر څرتا زغلې

د ژوند د هرې کشالې سمون وي

لېږ به دې ماته انتظار کړے وے

دومره د لوے توپ ضرورت خو نه وو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان ته رسم په غور ځنګ د مينې

ځان راته خدايګو شاه زاده ښکاره شي

ما چې شيرينه په پښو س اولې

❀ ❀

دغه شعور ورله ورکړے دے چا

ښکارې چې کوته په کوترې کښې دي نو

پس شي له اونو نه مارغان والوځي

❀ ❀

ما د تاوان سودا خو نه ده کړې

ورک چې د زلفو په ځنګل کښې شمه

د ښائستونو خزانې اوموم

Scanned by CamScanner

د ښائستونو خوب که هم اوویښم
د ازغکو ترخې اوبه اوڅکمه
هیڅ د ځوانۍ په خوږو پوه نه شومه

❀ ❀

د مورولۍ جذبه دې ستایمه زه
ته چې پردې ماشومان هم اووینې
ستا له سینو نه د پیو دارې اوځي

❀ ❀

د کور کارونه درته پښو پراته دي
غریبه پېغلې سنګار مه کوه
ستا په قسمت کښې شاه زاده نشته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ناروا پېغله ده ماته وائي
ستا په سينه به نکوم منګولې
څو داسې کلک رانه مړوندمه نيسه

✿ ✿

زيړګي زېړګي، سلګۍ سلګۍ شيرينې
ما د پېښو پنجو کنبې خوب ليدلو
چې شړنګانو راته خولې وازې کړې

✿ ✿

ستا د رښتيا خبرو تاب نه لرم
نور درله ځنې له درتلے نه شمه
زه به د کوم کوم سوال جواب درکوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچ تار به ستا په بدن پاتې نه کړي
څومره وير به زړې په ځان، خورم خودې نه
يو څو شپې کېته، شپې دې بس

مينه رښتيا دَ بدن وينه اوڅکي
لا ستا دَ کور مخې ته ناست نه وُمه
زړهٔ مې ستومان، خپې مې مېږې مېږې شوې

څه ليشتينکې مخ دې ورک شه، زغله
ا دَ چينار چينار قامت مېرمنه
تا په کمڅوکېنې اوبزانده نکړي

Scanned by CamScanner

زهٔ تقدس دَ مینې نهٔ رد کوم

خو ما چې چا باندې باور کړے دے

هغهٔ مې سترګو نه راتجهٔ اوړې دي

❁ ❁

بُت دَ رنګونو زما نهٔ دے پکار

زهٔ په ستائينه دَ ګل څهٔ اوکړمه

چې خوشبويانې رانه لار بدلوي

❁ ❁

تورو ځڅو راکښې لښې پرېښې دي

اوس چې اوږدهٔ بانهٔ رابرند شي په ما

زما بدن باندې وېښتهٔ اودرَوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندي خواږهٔ خوږهٔ راګوري مدام
دوه قاتلاني دي راځي راپسي
ځان له د ځاپه توره سرغوڅ کړمه

❁ ❁

د سترګو تور دي د غزل مطلع کړم
داسي راټول راټول تقسيم شومه زهٔ
لکه د کاڼي په منځ نيم شومه زهٔ

❁ ❁

د آرام سپوږمۍ مي حلواق تېر وي
ډېره که اونه د صحرا ګوره ده
د ژوند په لاسو کښي د مرګ توره ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هاغه ګودر سپوږمۍ د شال څرګند دے
چې ستا په مخ، زما په زړه ښکته وو
او وایه ستا د زنې خال څرګند دے

❀ ❀

د دې ماحول جادو کېږي ګوره نه شي
چې د هوا رفتار کمېږي دلې
رو رو چې د سمند رتېزې شي

❀ ❀

راشه په ساه ساه کېږي مې ستا مینه ده
ستا که باور نه وي زما په ژبه
زما د زړه درزا ته غوږ اونیسه

Scanned by CamScanner

اوس دَ سکښې ماښام تصویر جوړوم

چې ستا ځوانۍ ته در نږدې غوندې شوم

زهٔ دَ لمبې دَ سر لوګے غوندې شوم

ستا دَ ښائست خمار ځېځلے دے جوړ

ګني که زهر يې په تن کښې نهٔ وي

دَ اباسين په خوله کښې ګمګ ولې دے

سيلۍ چې کلي کښې راوالوتله

چړګو وزرو کښې راټول کړه بچي

ژوند دَ نسلونو دَ بقا نامه ده

خفه په خپله تنهایی نهٔ یمه
خو ساه مې اوځي چې د کور اونه کښې
زهٔ دَ مرغۍ بچې یوازې وینم

❀ ❀

دَ اوریسنټل بلاک په اوږدلان کښې
زهٔ چې په هرې زاویې ګورمه
دَ قاتلانو سترګو شیش کښې یمه

❀ ❀

دَ غم چپې دَ سرې ځنې ورانوي
دَ یوې مور ژړا لیدلې ده ما
اوس دَ مرغانو بچي نهٔ رانیسم

زما آواز به دې زړهٔ ټق اوڅوي
ما په شوکېس کښې ایښودلے نهٔ شې
خهٔ ډیکوریشن پیس خو نهٔ یمه زهٔ

❁ ❁

سم راته ښکارې دَ پښتون ښځې دې
اول دې ماته رابېره کړې او
روستو بیا راشې تا په شا ټپوې

❁ ❁

زما دَ مرګ نه سترګه نهٔ رپې خو
چې حادثې لاره کښې اووینمه
نو دَ جهاز نه په چترۍ دانګمه

ټکیا وي ټوله ورځ کاروانه کوي
خو د جنډیو په ټپه نه پوهېږي
ما د روبوټ سره واده کړے دے

❀ ❀

زما کتاب څخه چینګه اولولي
او وائي دا زلمے به چرته وینو
ده خو زمونږه نه ښځې ویستي دي

❀ ❀

لوړه د مینې په مرۍ غلې شوه
ماته یې سپوره ډوډۍ کېښودله
بېغلې ښځېله پراتې اوخوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې مه څه دغوبل مخې له
بېغې له منځه ترینه ځان اوباسه
چې تماشګیې د نخښې منځ نه اولي

❀ ❀

د ژوند پایه څه ناروا تېزه ده
دا هم زما دوه تصویرونه دي خو
دواړو کښې هیڅ مناسبت نشته دے

❀ ❀

رانه یه ساه ډېره په سخته اوځي
وژنے چې ما نو د نیائست سېرمنې
بیا د ګلونو ډالۍ مه راکوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرق دې کته او تاوان اوګي
د ګل ورمې چې پکښې اور اخلي
داسې وطن دې په سېلاب لاهو شي

❁ ❁

زما سینه کښې ئې خپل سر پټ کړلو
زړه ته مې نور هم راجخته شوله
ویل ئې مه څه ماپېریان وینه دي

❁ ❁

دلته د هر چا په تندي کوېنې دي
ژوند ته هسې چې د خندا وربخښي
زه د کاغذ ګلونه هم نه ګنم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُ که همّام دے که سعود، اسامه

که فائقه که ثوبیه که سعد

ټول مې دَ مينې دَ اسمان ستورې دي

❁ ❁

دَ لوئے قدرت مالکه ما اوبخښه

که اراده مې نهٔ وه جرم خو دے

دَ خپلې مور غاښې شهيد کړے دے ما

❁ ❁

رانه غزوه دَ بدر هيره نهٔ ده

که اُخرې ساګانې هم اخلمه

زهٔ به دَ خدائے لار کښې جهاد کومه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ خپره پېغله نهٔ يم خوشحاله اوکړمه
ستا په لاسونو کښې چينجي اونشي
په خپله مورلم گوزارونه کوي

❁ ❁

ډېر لوے کړاوُ غوارې يو والےدَسوچ
خېر که مې ښځه په مزاج نهٔ رسي
زهٔ خو لا مورهم پېژندلے نهٔ يم

❁ ❁

زهٔ دَ خپل قام دانشوران پېژنم
زما په سوال به غلي پاتې شي تول
او دَ سګرېټ نه به لوګی پورته کړي

Scanned by CamScanner

درته چې ګورم د خالونو په داغ
د اوښکو زهر مې مري په سوي
اسمان د ستورو اديره خو نه ده

❁ ❁

کم اصلي ښځې نه دي او ساته رب
خدايه شته که مړه ئې کړي خو نه سمبړي
د سپي لکۍ به د چا پلار نېغه کړي

❁ ❁

ما چا له سترګې توري کړي نه دي
پېغلې زما په لمن داغ لګوي
رانجه چې پورې کړي نو ژاړي څله

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

پېغلې وېل لاړمه ډوبه شومه
زړهٔ په چا سېزي دَ موټر مالکان
بیا به زړهٔ لفټ دَ چا نه نهٔ غواړمه

❁ ❁

دا ځنی ښهٔ دَ غاړې غوړ شي زما
سنګسار سنګسار مې شي احساس دَ وجود
زهٔ چې ماشومې لور له پړق ورکړمه

❁ ❁

ماتم ماتم شوه دَ ساحل سندره
زما جونګړه جوړ سېزلې ده چا
ما دَ دریاب په سر ایرې اولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه خوبونه تښتولي دي تا
دا څه پېریان درباندې ناست دي آخر
په نیمه شپه چې ستا نه چغې اوځي

❁ ❁

ځکه زړه ستا په خوله باور نه کوم
که تا ته یاد شي نازنیني پېغلې
تا به مېن کاتو کښې ټکي کوله

❁ ❁

بې ځایه وېرې مه ځوانې خاورې کړه
سر ته رسېږي نه کاروانه د ژوند
پېغلې راځه چې دواړه مینه اوکړو

Scanned by CamScanner

منم خوږې اوبه دي د غم سپورې دي
خو دې پړاو ته د راتلو نه وړاندې
دړې مې د خپله ځانه اور وېښتې مې

❁ ❁

تا چې زما تصویر په مخ ښکل کړلو
وینې مې ټول بدن کښې جوش اوهه
سمندرونه مې د خیال سپورې شو

❁ ❁

په شوګیرو باندې ستومانه یو اوس
بیګاه مو ټوله شپه خبرې اوکړې
خو پټ مو اوساتل د زړه حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لمنه باندې داغ نښته دے

دا خو سپوږمۍ خپله ځواني تاسره

يو څو ساعته امانت ايښې ده

✿ ✿

دَ کوکو پرېشر دې سپوا دے بلا

ساده جينۍ اور ورته مهٔ تېزوه

په چم کالوندې کښې چرته بم اونخوې

✿ ✿

زهٔ بې وسۍ باندې يقين نهٔ لرم

دَ خپو دَ لاندې به ئې زمکه خوې

که دَ غريب په سر اسمان نښته دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلو سيندونو ته منګې مه اوړئ
څوک ساه لرونکي ځي ډوب کړي دي جوړ
دا چې اوبه بوړ بوړکې جوړوي

❁ ❁

چې پرېښودلې مې زما اووېني
نو په خندا اووائي ژاړي څله
راځه چې زه درله ژبې ماته کړم

❁ ❁

د بد نصيبو په دې وران کلي کښې
مرغان چې جالې جوړوي شيرېني
د طوفانونو علامې ښکاره شي

Scanned by CamScanner

دَ هر يو ګل دَ زړهٔ سندره يمه
دَ خپل احساس په درته څهٔ وايمه
ستا دَ ساګانو دَ وږمو نامه ده

❁ ❁

چې منډې ترړې هنګامې جوړې شي
څوک بې ګناه پکښې په سر اونګي
لارو کوڅو کښې ډزغې مهٔ کوه

❁ ❁

تورو شپېلو نه چې لوګي پورته شي
وېره که ورځ مې دَ وادهٔ ده ګنې
زما ياران ما په پالنګ خېژوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ په دې کلي کښې سړي نشته دے
چې د چا خه زړه غواړي هاغه کوي
څرګه یا ننګ اووائي څوک ها واچوي

❀ ❀

زما سندرې خوندې کړې دې چا
ځان نه بلا په فاصله پروت یمه
راته نژدې نه شې میراته په شې

❀ ❀

زۀ په خپل ځان کښې راتولېږم مه نه
ته دې جوړ خوب د ښغلتوب اولیدۀ
ستا په بدن کښې ستا جامې تنګې شوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حاسدانو په زړهٔ اور بلوه
ګوروبه ، هر څه چي وي ، غم مهٔ کوه
اوخاندهٔ کلکه راتړ غاړه وڅه

❁ ❁

دا دَ قیامت ورځه چي هم نهٔ ده نو
چا جوړې زمکې ته خبرې کړې دي
ګنې نو میاندې خپل ځي ولې خوري

❁ ❁

ستا دَ پښن ببو شرنګ چي واورمه نو
په نیمه شپه دَ کټ نه پاسمه زهٔ
او دَ چینې غاړې له ځان رسوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کښې زهٔ يو منطق هم نه منمه
او منه دا به زما وهم وي خو
زهٔ هندوانې سره شو ملې نهٔ ځکمه

❁ ❁

دَ سامرې نسل او سېږي دلې
که يې په خپلو سترګو هم او وينې
دَ ځنې اواز پسې به غوږ نهٔ اوړې

❁ ❁

د نګې ځواني دې دَ اسمان ځوکه کړم
چې ابوالهول ته مخامخ شومه زهٔ
نو ستا عظمت راته راوړاندې شولو

Scanned by CamScanner

حُسن په پاڼو کښې رانغاړمه نه
ستا تصویر ونه په ګلدان کښې بندمه
څه لېونی زه په البم څه کوم

❁ ❁

دا خوب به نه وینې چې ښکېل یې شمه
له ځانګې چې مې الوځوې
یوه مرغۍ یم پوره سېل به شمه

❁ ❁

زنځیر موټی، موټي زنځیر اوخوره
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوره
نن دې وېښو رانه تصویر اوخوره

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه که ځې ګنې په مخه دې ښه
دومره مې زور په زړه کښې پاتې نه دے
چې اوس به زه تا ته جولۍ نیسمه

❁ ❁

په خط کښې لیکې جوړې هره دې کړم
بلا زورلے یم د مینې تبې
راشه زما دواړه وخکې اووتل

❁ ❁

ته په خوراک کښې ولې خیال نه کوې
لا خو د شپې میاشتې هم نهٔ دې شوې
ستا د وادهٔ جوړه په تا تنګه شوه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په جولۍ کښې په خوارۀ دراولم
دا ستا ځواني که دَ صحرا تنده شي
نو زۀ به اوُنه دَ کجورې شمه

❀ ❀

څۀ که يې ځلے کړو دَ ژوندون حادثو
زمونږه زمکې، اسمانونه بيل دي
تا سو خبرات غوارۍ مونږ مينې ويشو

❀ ❀

راسره دومره مينه هم مۀ کوه
څوک چې له کوره په سفر اوځي نو
بيا په مره کېږه خوراک نه کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې دې زر په واپس راشمه
داسې ښېو کښې اوښکې مه څلوه
دَ اسمان ستورې درنه غلا اونکړي

❀ ❀

مینه تر منځه فاصلې ورکوي
چې دَ پسرلو په څېر کښې ساه واخلمه
ستا دَ یدن وږمې مې ځان سره وړي

❀ ❀

ګټه په هر حال کښې لم ستا برخه ده
ټول عظمتونه دَ اسمان لاندې کړې
چې ستا رابرنډ بانه وسله غورځوي

Scanned by CamScanner

مینه دَ ژوند هره تیارهٔ تمبوي
ستا دَ نظر مسکې مسکې پلوشې
ما ته په لار کښې اورګي پرقوي

❁ ❁

دلته دَ وینو سېلاب ولې راشي
ددې وطن وږمه وږمه خاوره خو
مدام ګلونه دَ چامبېل ټوکوي

❁ ❁

ته دَ ګلاب دَ ګل ښائست ستایه خو
ستا اننګي چې پرخه پرخه شي نو
داړه سپرلی درته په خپو پرېوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا اواره زلفې چې تک ورکړي نو
ډک شي له زهرو نه وجود د هوا
بيا چې څوک ساه اخلي نو ساه ترې اوځي

❁ ❁

ډېر شر پسنده جنګیالي خلق دي
اوس که له تندې مړه مړه دي شمه
خو زه د دې کلي اوبه نه څکمه

❁ ❁

زه بې ګناه چا سره جګړه نه کوم
تا که لکه ببره کړې نه وه
نو دا ګرېوان به دې شلېدلے نه وے

Scanned by CamScanner

ستا دَ بدن خوَله دې اوبهېږي
څه که اسمان درباندې اور وروي
خو ـځ پوډر به رانه پورې نکړې

راپورته کېږه چې اننګې ته اوځو
راځه باران دَ پشکال ورېږي
که موګرمکې دَ بدن ماتې شي

ته خفه کېږه مه شیرینې زما
که دا ژورې په ما خولې ګکوي
دَ بدن وینه به صفا شي زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دومره پېغلو د زړه سر يمه زه
که د يوې نامه مې هم واخسته
ستا د تصوير نه به لمبې پورته شي

❁ ❁

چا سره وخت کوم دے چې مونږ اووينې
ټوله دنيا د ځان په غم اخته ده
راځه بلبلې راتر غاړه ووځه

❁ ❁

د اسمان ستوري راته غوږ کښې وائي
په خپلو سترګو کښې ئې خال دے ځکه
زما په سينه لمن داغ لګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دومره ښکلې جینۍ نهٔ وه لیدې
زهٔ هم انسان یم اخر زړهٔ لرمه
خطا مې نهٔ وه که خطا شومه زهٔ

❀ ❀

دَ محبت بلا چلونه راځي
خو دَ پښتون کور کښې پیدا یمه زهٔ
دَ پېغلو ژوند بربادولے نهٔ شم

❀ ❀

مینه مو نهٔ پرېږدي دَ شپې تیاره کښې
که دَ اوبو په لانبو کښې ئم ناست یوُ خو
راپسې ستورې او سپوږمۍ رازغلي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا که ستني کړې پلوشې دَ نظر
زړهٔ به زرغون نهٔ کړي دَ ژوند فصلونهٔ
بیا به په دې للمه باران اونهٔ شي

❁ ❁

ارمان په غېږ کښې دَ ارمان ورک شولو
مانه دَ لاس کړښو کښې ځان ورک شولو
دَ زړهٔ درزا پسې مې لاره چرته شم

❁ ❁

زما لباس په ما کښې تنګ خو نهٔ دے
ژوند دَ نولي او دَ مارجنګ خو نهٔ دے
کېږ به تر څو په دې فریب کښې یمه

Scanned by CamScanner

دَ کيتهس سندرې اوريدلې دي ما
ما دَغالب شاعرۍ هم لوستې ده
ستا دَ يوې خندا جواب نهُ لري

❁ ❁

دَ ژوند صحرا کښې دَ ښائست ميرمنې
تا چې په کومه لار دمه کړې ده
تر ښه روانې دي چينې دَ مينې

❁ ❁

دَ اينُې په مخ سرخي چرته وې
چې دا شفق کلونه سپړې
دا پرې هم ستا دَ انګو سپورې دي

ساده جینۍ ده وائي مه ویرېږه
ستا نه خو زړه زیاته زړه وره یمه
پوهېږي نه چې دا مې څه اوویل

❁ ❁

دَ پېغلتوب مستۍ دې ډوبه نهٔ کړي
دا خو ښځې چا سره ګډې نهٔ اولي
دَ سمندر اوبو ته ټوپ مهٔ وهه

❁ ❁

ماتې پیسې چې جیب کښې نهٔ لرې نو
ځان داسې مخکښې مخکښې هم مهٔ کوه
ګنې نو لوټې به درله مات کړمه زهٔ

- -

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پکښې عکس د لمونځ اولیده
سوځ کښې مې ورکه شوه د ژوند اینه
زه چې بېدار شمه، ما خوب اولیده

❁ ❁

حُسن په هر ماحول کښې خیال ساتي خپل
چې فرښتو ترې لاس نیوې کړې دې
اکمل مالـه د هسپتال نرسـه ده

❁ ❁

سپوږمۍ که تا خپله هاله ماته کړه
اسمان ته وایه لاړې ډوب ئې کړې
ستوري د سیند تل کښې هم سترګې وهي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ازمېښتونه ئې د زړونه دانېسي
کنې نو زړه نه ئې لمبې پورته شي
مور چې د تې نه خپل ماشوم پرېکوي

❁ ❁

ستا د نظر مستي لاهو نه کړي، ما
زړه کښې مې مينه غورځنګونه کوي
او سمندر سره روان يمه زه

❁ ❁

غاوره پېغله خپل غرور ډوبه کړه
چې لېونې سپي خوله ورواچوله
اوس ئې په کېږه کښې کوترې شوې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرهٔ لوېښته دې په ما مهٔ غوروه
وېرېږم ما نه چرته هېره نهٔ شي
زما نظر څه سېلاب غونډې دے

❀ ❀

څنګ اختر ونه شي چاپېره له ما
د صائمي د سترګو پرې څې واخلي
روژه کښې سيد الابرار شوی دے

❀ ❀

تهٔ په ماښي کښې د جنت مېښته يې
د ناعمې خندا ته پام اوکړه لږ
خيل ځان ته زړهٔ کښې فرښتې ښکاري

Scanned by CamScanner

بېرته دَ کور دروازه مهٔ ساته اوس
نوې فتنې ترې رابرخېږه نهٔ شي
بیا چې په زمکه کښې غنم اوکرل

❁ ❁

راګوره مهٔ دا به احسان وي په ما
ادا کوي به څوک ددې کفاره
ستا په کتو زما روژه ماته شوه

❁ ❁

بیا به زهٔ تا سره په سېل نهٔ اوځم
تا دَ وړې کمبل کښې اونغښته ځان
واوره په ما تمامه شپه ورېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نه چې زه ورته کتے نشم ، خو
میاندې که خیال د خپل ناموس ساتي نو
بیا دې زامنو له واده نه کوي

❀ ❀

زه د رومان یوه سندره یمه
زما د ژوند په هره لار الوځي
څرخکې ، زانې ، لوکړه ، بلبلې

❀ ❀

ستا د انصاف شمله راټیټه مه شه
خو اوس په دې کښې به څوک څه اووائي
لېوانو مات کړل د هوسو بچوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ئې حقونه په سر سترګو منو
خو شئې نهٔ سپارو طوفان ته دَ ژوند
څوک دَ هوسۍ په اوږو بار نهٔ اوړي

❀ ❀

ما چې پرې ټول عمر خپل ځان خوړلو
لکۍ ببره کړې چې ما اووینې
کوسۍ کښې تاؤ شي رانه مخې واړوي

❀ ❀

هڅې به دې لاس کښې برکت رانشي
دَ پلار په مخې چې لګېدلې ئې تهٔ
یاد ئې ساته څوک به دې مخې نهٔ کوي

Scanned by CamScanner

سر مې قلم نه کړې منصف د وطن
د ګلو لښته چې راغاړه وته
اوس مې په ساه ساه کښې ورځې دي د ګل

❀ ❀

ته د هاتهي غوږ کښې اوده ولې يې
چې په لستوڼي کښې ماران ساتې نو
ځان به ستا په خود کښې اوښکېږي

❀ ❀

چا يې د زړه درزا ليدلې نه ده
ا شازادګۍ قرآنګو ما يادوي
بندې چې په تاج کښې د طاوس وزرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومنه دا ډېره سپېره لوبه ده
بیا به هم تا ته د ژوند لارې نیسي
خپلو بچو سره شطرنج مهٔ کوه

❀ ❀

دومره په مینه مینه مهٔ راګوره
څوک نه ورانه ترینه سازه نهٔ شي
ښځې زما توره کښې زنګ نښته دے

❀ ❀

دَ بدمعاشانو ښار دے غږ مهٔ کوه
که کمزورې ښایم نو مړ به مې کړي
تورې مې ځکه په چمبا ایښې ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دشاعر چاپ کتابونه

(۱) دَ رڼا سپوږمۍ ، پښتو شاعري ، ۱۹۹۱ء
(۲) ہم آئینوں کے قیدی ، اردو شاعری ، ۱۹۹۳ء
(۳) ستړکو کښې خوب دَ کودرپاتې نهٔ شو ، پښتو شاعري ۱۹۹۶ء
روميي ايوارډ يافته چاچا کريم بخش ايوارډ ۱۹۹۶ء
(۴) راته غوږ ونو کښې ښکرېږي شرنګوي ، دَ پښتو هايکو مجموعه ، ۱۹۹۸ء
(۵) گرفت ، اردو شاعری ، ۱۹۹۹ء
(۶) کاڼې دَ ګل په لاس کښې خوندنهٔ کوي ، دَ پښتو هايکو مجموعه ، ۲۰۰۰ء
(۷) اوازونه او دائرې ، پښتو تنقيد ، ۲۰۰۱ء
(۸) په ساحل دَ نظر ، پښتو شاعري ، ۲۰۰۲ء
(۹) ستا دَ خوانۍ تصوير په خوب اودهٔ دے ، دَ پښتو هايکو مجموعه ، ۲۰۰۳ء

# چاپ ته تيار

(۱) رضا ہمدانی احوال و آثار ، اردو تحقیق (پی۔ ایچ۔ ڈی مقالہ)
(۲) نیا اور پرانا غالب ، اردو تنقید
(۳) هايکو او پښتنه هايکو ، تنقيد و تحقيق .

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**